# د اسلام دويم خليفه،

## جليل القدر صحابي،

## عمر فاروق رضي الله عنه

# مبارک سيرت

د خپرولو شميره: .......... (۲)

Ketabton.com

ليکوال : حبل الله ( المتين)

کال : ۱۳۹۸ لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

نوم : ————————————— د عمر فاروق (رضي الله عنه) سیرت.

لیکوال او راټولوونکی: ——— حبل الله (المتین).

ژباړن : ————————————— خپله لیکوال.

ټایپ : ————————————— حبل الله (المتین)

ډیزاین او PDF: ————————— N. RASOOLI

کال: —————————————— ۱۳۹۸ هجري لمریز

د خپرولو شمیره: ————————— (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست

عنوان: ........ صفحه
د عمر فاروق رضي الله عنه د سيرت (۱) برخه: ---- (۱)
پيژندنه ---- (۱)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۲) برخه: ---- (۲)
د عمر رضي الله عنه اسلام راوړل: ---- (۲)
د عمر ابن الخطاب رضي الله عنه د سيرت (۳) برخه: ---- (۵)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۴) برخه: ---- (۶)
د عمر رضي الله عنه هجرت: ---- (۶)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۵) برخه: ---- (۷)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۶) برخه: ---- (۸)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۷) برخه: ---- (۱۰)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۸) برخه او د هغه کرامات: ---- (۱۲)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۹) برخه: ---- (۱۴)
د الله جل جلاله ولي جوړيدلو لپاره شرطونه: ---- (۱۴)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۰) برخه: ---- (۱۴)
کرامت زړه سوی، او د خپل رعيت سره مينه: ---- (۱۴)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۱) برخه: ---- (۱۶)
د شپې د خپلو خلکو د احوال معلومول: ---- (۱۶)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۲) برخه: ---- (۱۶)
قسم په خدای زه د دين په کار کې د کوچو نه زيات نرم يم: ---- (۱۶)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۳) برخه: ---- (۱۸)
د عمر رضي الله زړه ولې له کوچو نرم او تر کاڼي کلک وو؟ ---- (۱۸)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۴) برخه: ---- (۱۹)
پخوانيو اسماني کتابونو کې د عمر رضي الله عنه ذکر: ---- (۱۹)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۵) برخه: ---- (۲۰)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۶) برخه: ---- (۲۲)
د مسجد لپاره د مالک بې اجازې د ځا ځمکه استعمالول: ---- (۲۲)
د عمر رضي الله عنه د سيرت او عدالت (۱۷) برخه: ---- (۲۳)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۸) برخه: ---- (۲۵)
د جاسوسی په تور د مسلمان د وژلو حکم او قتل خطا: ---- (۲۵)
د عمر رضي الله عنه د عدالت (۱۹) برخه: ---- (۲۷)
د عمر رضي الله عنه د سيرت (۲۰) برخه: ---- (۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیرالمومنین د مسلمانانو لپاره سینه مبارکه پراخه ساتل: ------------------------------(۲۹)
د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۱) برخه: ------------------------------(۳۱)
د اور سوزولو سزا چا ته ورکولو سزا: ------------------------------(۳۱)
د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۲) برخه: ------------------------------ (۳۳)
د ذمیانو او غلامانو حکم څه دی، چې جرم وکړي؟ ------------------------------ (۳۳)
د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۳) برخه: ------------------------------ (۳۵)
د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۴) برخه: ------------------------------ (۳۶)
د ذمیانو حقوق او جنګي بندیانو سره غدر: ------------------------------ (۳۶)
د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۵) برخه: ------------------------------ (۳۸)
د اولاد رسول ص سره نیکې کول: ------------------------------ (۳۸)
د ذمي د مال د خوړلو حکم: ------------------------------ (۳۸)
د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۲۶) برخه: ------------------------------ (۳۹)
قربان له داسې تقوی نه شم: ------------------------------ (۳۹)
د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۲۷) برخه: ------------------------------(۴۱)
واک غوښتونکو ته زبردست زیری:------------------------------(۴۱)
د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۸) برخه: ------------------------------ (۴۳)
قاضي صاحبانو ته: ------------------------------ (۴۳)
د عمر ابن الخطاب رضي الله عنه د سیرت مبارک (۲۹) برخه: ------------------------------ (۴۴)
د عمر رضي الله عنه د خلافت لپاره د اهل حل والقعد شوری جوړول:------------------------------ (۴۴)
د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۰) برخه: ------------------------------ (۴۶)
د عمر رضي الله عنه تقوی د بیت المال په باره کې: ------------------------------ (۴۶)
د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۱) برخه: ------------------------------ (۴۹)
د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۲) برخه: ------------------------------(۵۱)
او د شهادت غمجنه پېښه: ------------------------------(۵۱)
د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۳) برخه:------------------------------ (۵۳)
او د شهادت دوهمه برخه: ------------------------------ (۵۳)
د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۴) برخه:------------------------------ (۵۶)
د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۵) او اخیري برخه: ------------------------------ (۵۷)
د عمر ابن الخطاب رضي الله عنه هغه خدمات چې د ټول انسانیت لپاره یې کړي دي: --------------- (۵۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر فاروق رضي الله عنه د سیرت (۱) برخه:

**پېژندنه:**

نوم: عمر ابن الخطاب رضي الله عنه○.

د مور نوم: ختنمة بنت هاشم.

د عمر فاروق رضي الله عنه اولاد:

عبدالله، چې لوی عبدالله بانـدې یادیـده، او د عمـر رضـي الله عنـه لـور حفصـه أمّ المُـؤمنین رضـي الله عنها دا دواړه د زینت بنت مظعون دلور څخه وو.

بـل زوی یـې لـوی زیـد (زیـد الاکبر) چـې د علـي او بـي بـي فـاطمې رضـي الله عنهـا دلور کلثـوم رضـي الله عنهـا چـې د عمـر رضـي الله عنهـا بـي بـي وه، ورڅخـه پیـدا شـوی وه، همدا سـې نـور اولادونـه د مختلفـو بیبیـانو نـه پیـدا شـوي وو، زید الاصـغر، عاصـم، عبـد الرحمن الاوسـط، عبـد الرحمن الاصـغر، عیـاض بل زید او زینب، فاطمه.

د عمر رضي الله عنه د اسلام راوړل، زړه ته سکون ورکونکې لحظات.

عمـر رضـي الله عنـه د قریشـو د هغـه تکـړه مشـرانو نـه وو چـې زیـات بهـادر، زړه ور، تـوره چلـوونکې، تکـړه غشـي ویشـتونکې، لیکـونکې او لوسـتونکې او عمـومي سـفیر وو، یعنـې کلـه بـه چـې د قریشـو د کـوم قـوم سـره مشـکلات راغلـل نـو هغـه دښـمن تـه بـه د خبـرو لپـاره چـا لـه ویـرې زړه نـه ښـه کولـو، چـې ورشـي خـو عمر رضي الله عنه به بې ډازه او بې ویرې د سفیر په توګه ورتللو.

عمـر رضـي الله عنـه د بعثـت پـه اول وخـت کـې د مسـلمانانو تـر ټولـو زیـات سـر سـخته دښـمن او تکلیـف ور کـوونکې وو؛ نـو همـدا سـبب وو، چـې کلـه بـه هـم مشـرکېنو کـوم اقـدام کولـو نـو د عمـر رضـي الله عنـه پـه مشـوره بـه یـې عمـل کولـو او رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) او نـور صـحابه رضـي الله عـنهم هـم دده نـه زیـات پـه ویـره کـې وو، نـو زکـه رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) الله (جـل جلالـه) تـه سـوال وکـړو چـې یـا الله (جـل جلالـه) تـه خـو اسـلام د دواړو عمرینـو نـه چـې کـوم تاتـه خـوښ وي قـوي کـړې، یعنـې مسـلمان یـې کـړې، یـو عمـر ابن هشـام چـې ابوجهـل وو بـل عمـر ابن خطـاب رضـي الله عنـه وو، نـو الله (جـل جلالـه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سوال قبول کړ او د عمر رضي الله عنه د اسلام قصه داسې شروع شوه.

د مکـې مشـرکېن سـره راټـول شـول چـې د رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) پـه ضـد یـوه فیصـله وکـړه چـې داسـې یـو چـل جـوړ کـړې چـې د رسـول الله (صـلی الله علیـه وسـلم) نـه ابـدي بیغمـه شـي، نـو دوی ټـول مشـران راوبلـل او هرچـا خپلـه رایـه ورکولـه، خـو د عمـر رضـي الله عنـه رایـه بـل شـان وه، هغـه داسـې چـې عمـر رضـي الله عنـه پـه ځـان بیخـي زیـات ډېـر وو، چـې هـر کـار کـولای شـي نـو ورتـه یـې وویـل د محمد (صـلی الله علیـه وسـلم) کـار ماتـه پریـږدئ، زه بـه مـو ابـدي تـرې بیغمـه کـړم زه یـوازې ورځـم او سـر تـرې قلـم کـوم او تاسـو تـه یـې راوړم، بیـا بـه د ده د خانـدان سـره کومـه روغـه جـوړه وکـړو یابـه یـو نفـر ورکـړو چـې بـدل کـې یـې مړ کړي یا به فدیه ورکړو.

---

○ ماخذ سیرت ابن هشام ـ حکایات صحاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټولو دا خبر خوخه شوه نو عمر رضي الله عنه توره له تيکې بهر کړه او له هغه ځايه راووتو، هر چانه به يې پوښتنه کوله، چې محمد (صلی الله عليه وسلم) چېرته دی تر هغې چې دبني زهرة دقوم يو نفر مخې ته ورغی هغه چې عمر رضي الله عنه وليدو پوښتنه يې ترې وکړه، چې عمره چېرته داسې توره په لاس روان يې عمر رضي الله عنه ورته وويل محمد (صلی الله عليه وسلم) پسې راوتلی يم نن يې بې له وژلو نه پرېږدم.

محمد (صلی الله عليه وسلم) زموږ خدايانو ته بد نسبت کوي خدايي يې نه مني او دپلرونو او نيکونو دين ئې پرېښی دی زموږ قوم د ده د داسې کارونو نه تنګ راغلی دی نن به ضرور ټول ترې بېغمه کړم نو، هغه نفر چې دده خبرې واوريدلی ورته ئې وويل چې ښه ته دومره بهادر يې چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وژلو پسې راوتلی يې؟ ته هغه پرېږده خپل کور دی سمبال کړه.

عمر رضي الله عنه خپل کور؟

ولی زما کور کې کوم نوی کار شوی؟

هغه ورته وويل دکوم دين د محوه کولو په نيت چې راوتلی يې هغه ستا کور ته داخل شوی، ته اول د خپل خاندان غم وخوره ستا خور او اوښی دواړه مسلمانان شوي لاړ شه ويې ګوره.

عمر رضي الله عنه، چې د هغوی خبرې واوريدلی له غوصې تک شين شو او د خپلې خور د کور طرفته روان شو، کله چې هلته ورسيد، نو دروازه يې په زوره زوره په لغته ووهله، چې خور يې له ويرې کلکه بنده کړيوه خور او د خور خاوند يې نورو مسلمانانو سره هلته پټ قرآن لوستلو چې خور يې آواز واوريدلو نو له ويرې په لړزيدا شوه او خپل خاوند او نورو کسانو ته يې وويل تاسو پټ شئ زه ورزم چې معلوم پړم چې عمر رضي الله عنه په کوم نيت دومره په غوصه راغلی دی، هغوی ټول پټ شول او د خور فاطمې يې هغه دقرآن کريم پاڼې هم له ډيرې ويرې په همغه ځای کې له ياده وتلې وې او پټې کړې يې نه وې او په داسې حال کې دروازې ته روانه شوه، چې ټول بدن يې له ډيرې ويرې په لړزا وو.

❁❁❁❁❁

## د عمر رضي الله عنه د سيرت (۲) برخه:

## د عمر رضي الله عنه اسلام راوړل.

کله چې نعيم، عمر رضي الله عنه ته پيغور ورکړ او سعيد ابن زيد رضي الله عنه چې د فاطمې بنت الخطاب رضي الله عنه خاوند او دعشره مبشره په قطار کې هم نمبر دی کور طرفته ورغی او هغوی ته خباب ابن منذر رضي الله عنه دقرآن تعليم ورکولو نو، کله چې فاطمې رضي الله عنها ټول موجود کسان پټ کړل او په داسې حال کې دروازې ته راغله چې بدن يې له ويرې لړزيدو او عمر رضي الله عنه ته يې دروازه بيرته کړه نو عمر رضي اله عنه چې له ډيره قهره او غضبه يې حواس بايللي وو، داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواز ورباندې وکړو ،ای د ځان دښمني مـا آوریدلي چې تا د خپلو پلرونو او نیکونو دین پریښي ایا دا رښتیا دي؟
فاطمی رضي الله عنها جواب ورنکړ، نو عمر رضي الله عنه یې په وهلو شروع وکړه دومره یې ووهله، چې د مخ مبارک نه یې وینې روانې شوې، نو جواب یې ورکړ، چې ای د خطاب زویه (د ورور نوم یې ورته و نه ویل، ځکه چې د هغه کفر یې تر منځ مانع وو )چې هر سه کولای شی ویې کړه، هو زه مسلمانه شوې یمه زماژوند او مرګ به په همدې لاره کې وي، که چېرته حق په همدې لاره کې وي، نو زه همدا کلمه وایم بیا یې د شهادت کلمه وویله، کله چې عمر رضي الله عنه د هغې حالت ولیدو نو ویره ورباندې راغله کتې کې کېناست او سوچونو واخیستو ، ایا دغه دین دومره ریښتیني دی او حق دی چې فاطمې رضي الله عنها ترې سره د دومره وهلو هم انکار ونکړو؟

همدې فکرونو کې ډوب وو چې هغه ورقو باندې چې هغوی نه له یاده وتلې وې نظر ولګیدو نو فاطمې رضي الله عنها ته یې وویل دغه ورقو کې څه لیکل شوي رایې کړه چې ویلولم، فاطمې رضي الله عنها جواب ورکړ، نه نه ته ددې لایق نه یې، دې باندې بې اودسه لاس لګول منعه دي که غواړې ویې لولې اول غسل یا اودس وکړه، د فاطمې رضي الله عنها زړه کې ورته امید پیدا شو زر یې اوبه ورته راوړې او د اوداسه طریقه یې ور وښوده.

او عمر رضي الله عنه داسې حالت کې اودس وکړو چې د فاطمې رضي الله سره ما څومره غلطي وکړه چې ومې وهله او هغې راسره هیڅ کېنه او عداوت ونکړ، خور څومره ورور مهربانه وي.

له اوداسه وروسته عمر رضي الله عنه د قران پاک په لوستلو شروع وکړه، چې اول کې یې بسم الله الرحمن الرحیم لیکل شوی وه، کله چې یې -الرحمن -او الرحیم -ولوستل نو غلی شو او د دې کلمو معنی کې ژور سوچ وکړو، بیا یې لوستل پیل کړل، مخکې د سورت -طه ایاتونه لیکلي وو، فکر او غور باندې یې لوستل چې مور خو ویل دا شعر دی، دا منتر دی دا خو رښتیا الله (جل جلاله) کلام دی ترهغې چې (۱۴) ایات ته ورسیدو چې لیکل شوي وو ( اِنَّنِیْ اَنَااللّٰهُ لَااِلٰهَ اِلَّااَنَا فَاعْبُدْنِیْ الخ )

نو ، نور یې له سترګو اوښکې روانې شوې او په لوړ اواز یې د شهادت کلمه وویله.
فاطمې رضي الله عنها نه خپل ځان هیر شوی وو ، د ورور په فکر کې وه چې له خوشحالئ نه یې -الله اکبر چغې کړې ورسره یې خاوند او خباب ابن منذر رضي الله عنهم هم راووتل د هغوی هم ویره ختمه شوی وه.

هغوی الله اکبر چغې کړې، هغوی ورته وویل، عمره مبارک شه پرون رسول الله صلی الله علیه وسلم الله جل جلاله ته سوال کړی وو ، یا الله دواړو عمرینو کې چې یو عمر ابن هشام یعنې ابوجهل دی او بل عمر ابن الخطاب دی، چې کوم تاته خوښ او محبوب وي د مسلمانیدو هدایت ورته وکړه، نو دعا یې ستاسې په باره کې قبوله شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـور، نـو د عمـر رضـي الله عنـه حالـت بـدل شـوی وه فـاطمې رضـي الله عنـه تـه يـې وفرمايـل زر شـه راتـه وواپـه چې محمد (صلی الله علیه وسلم) چېرته دی نور مې صبر نه کېږي زر شه وو ایه چېرته دی؟

د هغـوی چـې اوس يقـين راغلـی وه چـې عمـر رضـي الله عنـه رښـتينی دی ورتـه يـې وفرمايـل هغـه د ارقـم پـه کـور کـې دی؛ نـو عمـر رضـي الله عنـه سمدسـتي لـه هغـه ځايـه د ارقـم کـور تـه راروان شـولو او رسـيدو سـره سم يې دروازه وټکوله.
دننه نه اواز راغی سوک يې؟
عمر رضي الله عنه جواب ورکړو عمر يم.
صـحابه کرامـو تـه چـې د عمـر رضـي الله عنـه رعـب معلـوم وو، ورخطا شـول خـو سيد الشـهداء حمـزه رضـي الله عنـه تـوره راوويسـته او ويـې ويـل يارسـول الله (صـلی الله عليـه وسـلم) زه ورځـم کـه پـه غلـط نيـت راغلی وی چې کار يې ور خلاص کړم.

رسـول الله (صـلی الله عليـه وسـلم) ورتـه وفرمايـل زه پـه خپلـه ورځـم، نـو رسـول الله (صـلی الله عليـه وسـلم) دروازې تـه راروان شـو ورسـره نـور صـحابه رضـي الله عـنهم هـم پـدې خـاطر راغلـل چـې کـه عمـر رضـي الله عـنهم کـوم غلـط حرکـت وکـړي، نـو تـرې منعـه بـه يـې کـړي صـحابه وو دروازه خلاصـه کـړه او رسـول الله (صـلی الله عليـه وسـلم) ور ووتـو او عمـر رضـي الله عـنهم يـې لـه جـامو ونيولـو او ځـان طرفتـه يـې رتـک وهلـو او ورتـه يـې وويـل، ای عمـره تـه مسـلمانانو تـه د تکليـف رسـولو نـه حصـاريګې، تـر هغـې چـې لکـه د وليد بن مغيره الله جل جلاله ذليله کړی نه يې؟

بيـا رسـول الله (صـلی الله عليـه وسـلم) دعـا وکـړه چـې يـا الله چـې پـه دغـه عمـر بانـدې خپـل ديـن تـه قـوت ورکړې.
دې وخـت کـې عمـر رضـي الله عنـه د شـهادت کلمـه وويلـه او ټولـو صـحابه کرامـو لـه خوشـحالئ د تکبيـر چغې شروع کړې چې دغه د الله اکبر الله اکبر الله اکبر اوازونه د مکې ټولو لارو کې خلکو واوريدې.

بيـا رسـول الله (صـلی الله عليـه وسـلم) درې وارې عمـر رضـي الله عنـه پـه سـينه کـې ووهلـو او دعـا يـې وکـړه چـې يـا الله (جـل جلالـه) د عمـر رضـي الله عنـه دزړه نـه کينـه، بغـض او عـداوت وباسـې او ايمـان پکـې داخـل کـړې دا دعـا يـې درې وارې تکـرار کـړه، دوی پـه همـدې خوشـحالئ کـې وو، چـې جبرايـل عليـه سـلام راغی•.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

• ماخوذ من، حلية الاولياء ۱-۴۷ ، صفة الصفوة ۱/۸۶ ، اسدالغابة ۴/۱۶۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر ابن الخطاب رضي الله عنه د سيرت(۳) برخه:

کله چې عمر رضي الله عنه د شهادت مبارکه کلمه وويله او رسول الله (صلی الله عليه و سلم) او نورو صحابه کرامو دتکبير اوازونه پورته کړل نو دې حال کې جبرايل عليه سلام تشريف راوړو او ويې فرمايل،

يارسول الله (صلی الله عليه و سلم) مبارک شه ستاسو سره اسمانو والاهم پدې خوشحالۍ کې شريک دي هغوی هم خوشحاله دي، نو دې زيري سره رسول الله (صلی الله عليه و سلم) نورهم خوشحاله شو نو دې وخت کې عمر رضي الله عنه له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پوښتنه وکړه چې،
او ويې وويل:
يارسول الله ايا موږ په حقه يو ، زموږ دين په حقه نه دی؟
رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ورته وفرمايل بالکل موږ په حقه يو زموږ دين په حقه دی نو ،
عمر رضي الله عنه وويل نو بيا موږ عبادت ولې په پټه کوو ولې په ښکاره ميدان ته ولې و نه وځو؟
زما دې په هغه ذات قسم وي چې ته يې په حقه رالېږلی يې موږ به نورهر عبادت په ښکاره کوو.
کله چې رسول الله (صلی الله عليه و سلم) دعمر رضي الله عنه شهامت، بهادري او غيرت وليدو سوچ کې شو چې لا خو اوس هم موږ د دومره ډيرو ملکونو او دعربو سره مقابله نشو کولای او دلته عمر رضي الله عنه قسم وخوړ چې نور به دغه حقاني دين ښکاره کوو.

خو چې فکر يې وکړو دقريشو تکړه او تر ټولو بهادر انسان حمزه رضي الله عنه لا له مخکې مسلمان شوی او عمر رضي الله عنه هم مسلمان شو اوس دکافرانو شر دفع کولای شو فيصله يې وکړه، چې د عمر رضي الله عنه قسم به پوره کوو ، نو اجازه يې ورکړه چې صحيح ده ستا خبره منظور ده او سمدستي يې دوه صفه برابر کړل د يو په راس کې يې حمزه رضي الله عنه او د بل صف په راس کې يې عمر رضي الله عنه ودرول او د دار ارقم نه بيت الله ته دتکبيرونو په زمزمه کولو روان شول، خو بل طرفته ټول مشرکين بيت الله شريف سره راجمع وو او د يو لوی زيري په طمع وو ، چې عمر رضي الله عنه تللی او اوس به د رسول الله صلی الله عليه و سلم نه سر پرې کړې راوړي، خو بل خواه بيت الله شريف ته د مسلمانانو دتکبيرونو زمزمې راورسيدې.
مشرکينو چې وليدل ديو صف مشري حمزه رضي الله عنه او دبل صف مشري عمر رضي الله عنه کوي نو حواس يې وبايلل او د دوی په ليدلو دومره غمجن شول، چې دوی په خپل ژوند کې داسې دغمونو ډکه توره ورځ نه وه ليدلې.

بل خواه رسول الله (صلی الله عليه و سلم) او صحابه کرامو ته د ژوند تر ټولو خوښوونکې د خوشحالۍ شيبې وې، نو په همدې ورځ رسول الله (صلی الله عليه و سلم) عمر رضي الله عنه ته دفاروق لقب ورکړ او بيا رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل.
⇦الله (جل جلا له) حق دعمر رضي الله په خوله او زړه جاري کړی او عمر رضي الله عنه فاروق دی چې حق او باطل يې سره جلا کړل له همدې ورځې نه وروسته مسلمانانو عبادت په ښکاره شروع کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعبداله ابن مسعود نه روایت دی:

⇦کله چې عمر رضي الله عنه اسلام راوړ، موږ له هغې ورځې وروسته په ټوله معنی عزتمند شو بیا چا دمسلمانانو دبې عزتۍ جرئت ونشو کړای.

بیت الله شریف کې له لمونځ کولو وروسته عمر رضي الله عنه دمشرکېنو ټولي ته ورغی دعوت یې ورکړ او اختار یې ورکړ، چې مسلمانانو ته د ضرر رسولو کوښښ ونکړئ، کنه نو د سختو او بدو عواقبو سره به مخ شئ○.

❁❁❁❁❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۴) برخه:

### د عمر رضي الله عنه هجرت:

څرنګه چې عمر رضي الله عنه په اسلام راوړلو کې جرئت مند وو نو، همداسې په هرکار کې یې پوره بهادري ښودله.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته دهجرت کولو اجازت ورکړ، نو اکثره صحابه به پټه روانیدل، خو کله چې عمر رضي الله عنه دهجرت اراده وکړه، نو په پوره بهادرئ ښودلو سره یې توره، نیزه، ډال، کمان او غشي له ځانه سره واخستل او بیت الله شریف ته یې تشریف وروړ، ښه په اطمنان او خاطر جمع زړه یې طواف وکړو بیا یې مقام ابرهیم سره دوه رکعته واجب طواف لمونځ ادا کړ، ښه دعاء یې وکړه بیا چې مشرکین ځای په ځای ناست وو، هری ډلې ته ورغی او ورته یې وویل زه هجرت کوم او دا یو الهي أمر دی، که هر څوک غواړي مور یې بوره شي، ښځه یې کونډه شي، بچې یې یتیمان شي؛ نو ما پسې دې دغه وادي یا درې ته راشي، د مدینې منورې لارې طرفته یې اشاره وکړه او له حرم شریف راووت.

خو چې کله عمر رضي الله عنه دمکې له حدودو را ووت ښه په اطمنان سره یې سفر ته دوام ورکړ، خو د مکې مشرکېنو ته دعمر رضي الله عنه پیغور خوند ورنکړ خپله یې جرئت ونشو کړای خو ضعیف او کمزوري غلامان یا مریونه یې ورپسې ولیږل خو چې کله عمر رضي الله عنه هغوی ولیدل نو زړه یې وربانده وسوزیده ورته یې وویل بیرته ستانه شئ زماتوره د تکړه او باتورو ځوانانو او مغروره کبرجنو لپاره ده چې دهغوی سرونه پرې یې غوځ کړم تاسو په خپلو ځانونو باندې رحم وکړئ او د دین دعوت یې هم ورکړ هغوی پدی بهانه چې ومو نه لیدو بیرته ستانه شول او عمر رضي الله عنه خپل مبارک اوږد سفریې بې له ویرې او ډار سرته ورسولو، نو هلته موجود مهاجرین او انصار ډیر زیات خوشاله شول ځکه چې عمر رضي الله عنه دسلیم فکر او رأی خاوند وو.

هغوی داسې دیو عقلند شخص مشورو ته زیات ضرورت لرلو.

دعمر رضي الله عنه هجرت د مسلمانانو حوصلې نورې هم اوچتې کړې•.

---

○ ماخذ: ترمیذی (۳۶۸۲)، (مسند امام حمد)(۲/ ۵۳)، طبقات الکبری ۳/۲۹۲_۲۰۵)، اسد الغابه ۴ (۱۴۶_۱۵۲)، الاسیعاب (۳_۲۳۷)

• ماخذ: اسد الغابة:۴جلد ص۱۵۲_۱۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سيرت مبارک (۵) برخه

بخاري شريف د سعد بن ابی وقاضي الله نه روايت کړی**.

رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د قريشو ښځې ناستې وی او په لوړ اواز يې پوښتنې کولې نو دې وخت کې عمر رضي الله عنه د راتلو اجازت وغوښت، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته اجازت ورکړ، هغه ښځو په ځانونو پردې واچولې او مخونه يې پټ کړل کله چې عمر رضي الله عنه راغی نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وخندل نو عمر رضي الله عنه ورته وويل زما مور پلار دې درنه قربان شي خوله دې هميشه له خندا ډکه اوسه ولې دې وخندل؟

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې دغه دقريشو ښځې ما سره ناستې وې مخونه يې ښکاره وو، اوازونه يې لوړ وو، چې ستا اواز يې واوريدو چوپ شوې او ځانونه يې پټ کړل عمر رضي الله عنه ورته ويل يا رسول الله صلی الله عليه وسلم پکار داده چې له تا وويريږي، دوی زمانه ولې ويريږي، بيا يې هغوی ته وويل ای دخپلو ځانونو دښمنانو تاسې ته خو درسول الله صلی الله نه زياته حيا او ويره پکار ده چې دخدای جل جلاله نبي دی تاسو زما څخه ويره کوئ؟

هغوی جواب کې ورته وويل په الله جل جلاله قسم ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه دحجاب باره کې ډير سخت يې، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل ای دخطاب ځويه زما په هغه ذات قسم چې زما روح يې قدرت کې دی چې تا ته شيطان کله هم په مخه درشي نو ستاله ويرې لاره بدلوي*:

⇦ ترميذي شريف کې حديث دی، چې بريده (رضي الله عنه) روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم سره جينکۍ وې او تمبل يې وهلو نو ابو بکر رضي الله عنه راغی هغوی لګيا وې، بيا عثمان رضي الله عنه راغی، هغوی لګيا وې بيا علی رضي الله عنه راغی، هغوی لګيا وې تمبل يې وهلو بيا چې عمر رضي الله عنه راغی؛ نو هغوی تمبل وهل بند کړل او وتښتيدلې.

دعايشې صديقې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کورکې ناست وو چې دباندې لاره کې دماشومانو چغې او اوازونه پورته شول، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورغلو او ديوال نه يې سر مبارک وربښکاره کړ، ګوری چې يوه حبشه تمبل وهي نو ماته يې اواز وکړو چې يا عاشې رضي الله عنها دلته راشه، نو زه ورغلم او خپل سر مې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اوږه کېښودو او دهغوی سيل مې کاوه رسول الله صلی الله عليه وسلم به راته وويل بس ندی؟ مابه ورته وويل نه ترهغې چې عمر رضي الله عنه رابښکاره شو نو ماشومان تول وتښتيدل او حبشۍ تمبل پټ کړ.

** باب التبسم والضحک۳۲۹۴، او ترميذی شريف:۲۳۹۲

* کتاب الوسيط:1/ص۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇦ دبخاري شريف حديث دی چې، رسول الله صلی الله عليه وسلم دغزوه موتا يا بلې غزا نه بيرته راغی يوه حبشه توره پيغله راغله ويې ويل يا رسول الله صلی الله عليه وسلم ما نذر منلی که تاسو روغ سلامت بيرته راغلئ زه به دخوشالئ سندری وايم او تمبل به وهم؛ نو رسول الله صی الله عليه وسلم ورته وفرمايل که نذر دی نوي منلی مه يې وهه هغې ورته وويل منلی می دی، نو هغې تمبل وهل او سندرې شروع کړل تر هغې چې عمر رضي الله عنه راښکاره شو هغې له ويرې تمبل کوناتې لاندی کېښود او له پاسه وربااندی کېناسته چې پټ يې کړي؛ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم بيا وخندل عمر رضي الله عنه ته يې وفرمايل ته چې په کوم ځای کې يې شيطان له هغه ځايه تخښتي هلته نشي تم کېدلای.

ګرانو دوستانو راتلونکې برخه کې د الله جل جلاله هغه حکمونه چې عمر رضي الله يې ارزو لرله چې داسې دې شوي وای، بيا هماغه آياتونه نازل شول دغه برخه هم مه هيروئ.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سيرت (۶) برخه

الله جل جلاله عمر رضي الله عنه د داسې سليم فطرت او طبيعت خاوند کړی وو چې ډير غلط کارونه يې د اسلام نه مخکې هم نه خوښول او اسلام راوړلو نه بعد يې هم ډير زبردسته رآيه لرله چې هغې کې دعمر رضي الله عنه ډيرې غوښتنې د قرآن د حکم راتللو سره موافقې شوې لکه،

❶ عمر رضي الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: چې يارسول الله صلی الله عليه وسلم که چېرته مونږ دطواف کولو نه بعد مقام ابراهيم سره لمونځ کولای نو ښه به وه ځکه چې طواف غوره عبادت دی، چې لمونځ مو هم کولای نو لا به ډيره ښه وه خو رسول الله صلی الله عليه وسلم لا د هو يانه جواب نه وو ورکړی، چې الله جل جلاله له اسمانه د سورة البقرې ۱۲۵ نمبر آيات مبارک رانازل کړ، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له ځانه يې دعبادت کوم حکم نشو ورکولای.

واتخذوا من مقام ابراهيم مصلی: تاسې مقام ابراهيم کې دطواف نه بعد لمونځ وکړئ، نو له دې آيات د نزول وروسته دوه رکعاته واجب طواف لمونځ ضروري شول په دې حکم کې د الله جل جلاله دفرمان سره دعمر رضي الله عنه دغه خواهش پوره شوه چې مسلمانان به ترقيامته ترې برخمن وي.

❷ دحجاب حکم: عمر رضي الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل يارسول الله مسلمانان ستا کورته د دين ذده کولو لپاره درځي او دوي کې به نيک او بد خلک ضرور موجود وي، نو که ته امهات المؤمنينو يعنې بيبيانو ته دستر کولو امر وکړې ډيره به ښه وای او تر دی وخته پورې دحجاب يا پردې کولو کوم حکم نه وو راغلې نو:

الله جل جلاله د سورت الاحزاب (۵۳) نمبر آيات نازل کړو.

واذا سالتموهن متاعا فسئلوهن من ورآئ حجاب.الاية

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تاسو کوم شی غواړئ؛ نو د پردې شا ته یې غواړئ یعنې پرده باید وکړئ چې یو بل ونه ګورئ د پردې په باره کې دې سورت کې پوره تفصیل بیان شوی دی.

❸ د عائشې صدیقې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به هره ورځ د مازدیګر لمونځ نه بعد د ټولو بیبیانو ځای ته ورتلو او په ولاړه به یې دهغوی احوال آخستلو خو یوه ورځ یې دیوې بې بې سره وخت لږ زیات تیر کړ هغه بې بې یا زینب وه یا ماریة قبطیه یا بله کومه بې بې وه خو ما ته هغه د بنتوب غیرت راغی چې ولې یې هغې سره وخت زیات تیر کړ؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته د وخت تیرولو سبب داوو، چې هغې بې بې ته چا شهد رالیږلي وو، هغه یې ورته ساتلي وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې راوړل هغه وڅکل، نو عائشې رضي الله عنها نورو بیبیانو ته وویل چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی چې هرې یوې ته ورتلو ورته به وایې ستا خولې نه د منافیرو بوی ځي، منافیر یو بدبویه بوټی وو کله چې رسول الله صلي الله علیه وسلم ورغی هغوی ورته همدا خبره وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل ما خو هلته شهد خوړلي شهد و کې بوی له کومه شو بیبیانو سره چې نور جواب نه وو، نو ویې ویل شاید د شهدو مچیو دغه بوټي باندې به ناستې وي، نو د دوی دې کار باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم خفه شو او بیا یې دهغې بې بې کورته د تللو نه قسم وکړو او دغه نورو سره یې هم تعلقات ختم کړل خبرې یې ورسره نه کولې، نو ټول صحابه کرام هم خفه شول او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم. بعضې صحابه کرامو سره مشورې کولې هرچا ورته خپله رایه ورکوله خو عمر رضي الله دهرې یوې کورته ورغی او ورته یې ویل چې تاسو په خپل ځان مه غاوره کیګئ. که رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته طلاق درکړي نو الله جل جلاله به هغه ته داسې بیبیانې ورکړي چې .مسلمانې به وي، مؤمنانې به وي، د الله جل جلاله فرمان منونکې به وي، توبه کوونکې به وي، عبادت کوونکې به وي، روژه نیوونکې به وي، که کونډې وغواړي که پیغلې ټولې به له تاسې غوره او بهترې الله جل جلاله ورکړي خو ټولو د عمر رضي الله عنه خبرې واوریدلې خو چا جواب ورنکړو یوائې بې بې زینب رضي الله عنها ورته وویل آې د خطاب ځویه دغه خبرې ولې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله نکوي چې ته یې کوې، نو الله جل جلاله د سورت التحریم (۵) آیات نازل کړو چې که ته دغه بیبیانې طلاقې کړې، نو الله جل جلاله به داسې بیبیانې ورکړي چې مسلمانې، مؤمنانې، تابعدارې، روژه نیوونکې، توبه ایستونکې به وي، کونډې غواړي که پیغلې ستاسې نه به غوره ورته نصیب کړي، دې آیات کې چې کوم کلمات ذکر شوي همداسې کلمات عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانو ته ذکر کړي وو، چې دا د عمر رضي الله عنه د سلیم عقل پوهې او حق پرستئ دلیل دی، نو بیا بیبیانو معافي وغوښتله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د قسم کفاره ادا کړه.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۷) برخه:

لکه څرنګه چې مخکې وویل شول د عمر رضي الله طبیعت شراب څکل نه خوښول او همېشه به یې خلکو ته ویل چې شراب څکل سړی بیغیرته کوي خو چې کله د شرابو په باره کې اولنی آیات نازل شو چې تاسو د شرابو د نشې حالت کې لمونځ ته مه نژدې کیږئ، نو عمر رضي الله عنه نور هم یقیني شو چې شراب بد شی دی؛ نو همېشه به یې الله جل جلاله ته سوال کولو چې یا الله جل جلاله مونږ ته د شرابو په باره کې پوره تفصیل سره وضاحتي معلومات راولیږه؛ نو الله جل جلاله د سورت المائده (۹۰-۹۱) ایاتونه نازل کړل چې شراب مکمل حرام شول.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې، څکونکې، بل چا ته شراب ورکوونکې، جوړونکې، وړونکې، ، آخستونکې، خرڅوونکې، ټول بیان کړل چې لعنت ورباندې دی.نو ټولو مسلمانانو شراب د کورونو نه بهر کوڅو کې واړول دومره زیات وه چې لکه او به وبهیدل نو دغه د الله جل جلاله د حکم سره د عمر رضي الله عنه هغه ارزو چې همیشه به یې تمنا لرله پوره شوه چې داد عمر رضي الله عنه د پاکوالي، ایمان او تقوی ستر دلیل دی چې بیا به یې خلکو ته ویل چې ما تاسو ته نه ویل شرابخوري بد عمل دی.

دعمر رضي الله عنه د بدر غزا کې دبندیانو په باره کې رایه د الله جل جلاله د حکم سره برابریدل.

دبدر غزا چې داسلام تر ټولو سختو غزاګانو څخه یوه تاریخي غزا ده چې سختې ګرمۍ کې شوې وه چې مسلمانان بیخي لږ او کافران ډیر زیات وو قرآن کریم یې مفصل ذکر کړی دی او موږ به یې راتلونکې کې تفصیلا بیان کړو نو الله جل جلاله د ملائکو په ذریعه د مسلمانانو ډله قوي کړه او (۷۰) تنه د اسلام سرسخته دښمنان لکه ابوجهل هلاک او (۷۰) تنه اسیران شول نو کله چې مسلمانان بیرته مدینې ته ستانه شول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکر، عمر، او علي رضي الله عنهم د مشورې لپاره را وغوښتل چې اسیرانو سره څه معامله وکړي ځکه چې دې باره کې د الله جل جلاله لخوا نه کوم حکم نه وو نازل شوی.

او دې اسیرانو کې زیات هغه سرسخته مشرکین وو، چې ټول عمر یې مسلمانانو ته قسم قسم تکالیف رسولي وو، لکه عقبه ابن ابو معیط چې ما یې مخکې بیان کړی دا هغه مشرک وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د لمانځه په حالت کې غاړې ته څادر آچولی وو او راکاږلو یې چې بیا ابوبکر رضي الله عنه تری خلاص کړی وو، خو ابوبکر رضي الله عنه یې دومره وهلی وه، پوزه یې په مخ مبارک نه معلومیده او نورو اسیرانو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره عباس د علي رضي الله عنه ورور عقیل او نور خپلوان وه نو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوی مشوره وغوښتله نو ،

ابوبکر رضي الله عنه ورته دفدیې آخستلو مشوره ورکړه او دا سې ټولو خپلې مشورې ورکړې خو د عمر رضي الله مشوره بیله او سخته وه عمر رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل ته حمزه رضي الله عنه ته ستا تره چې ورور یې دی، علي رضي الله ته عقیل چې ورور یې دی ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلاني خپلوان او ابوبکر ته فلاني خپلوان چې يو يو يې ذکر کړل په لاس راکه چې سرونه ترې غوڅ کړو

ترڅو الله جل جلاله ته معلومه شي چې موږ ته خپلوي له اسلامه غوره نده.

همدوی وه چې ته يې له مکې هجرت ته مجبور کړې، همدوی دي چې دلته دبدر موقع ته راپسې راغلل او دومره قوت سره وجنګيدل.

خو، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دغې مشورې خوند ورنکړو او د ابوبکر رضي الله عنه مشوره يې خوښه شوه چې فديه به ترې واخلو او خوشی به يې کړو.

دبخاري شريف حديث دی چې عباس رضي الله عنه انصارو نيولی وه او هغوی غوښتل چې د خپلو شهيدان مقابل کې يې مړ کړي، نو په دې شپه رسول الله ته د هغوی اراده معلومه شوه ډير پريشانه وو بيا يو صحابي انصارو ته ورغی، چې داد رسول الله صلی الله عليه تره دی خوشي يې کړئ هغوی ورته انکار وکړو، چې که امر يې کړی وي خوشی کوو يې که امر يې نوي کړی، نه يې خوشي کوو هغه صحابي ورته وويل زه يې په ضمانت بيايم هلته به بندي وي ترڅو د دوی په باره کې فيصله وشي هغوی ورته په لاس ورکړ او را يې وستلو او نورو بنديانو سره يې ستني پورې کلک وتړلو او هغه به زويرګي کول او رسول الله صلی الله وسلم ته چې دهغه فرياد يې آوريدو خوب نه ورتللو نو؛ صحابه کرامو ورته وويل چې يارسول الله خوب ولی نه درځي، هغه ورته وفرمائل دعباس زويرګي مې خوب ته نه پريږدي هغوی لاړل هغه رسی چې هغه يې پری تړلی وو، سسته کړه بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې د ټولو سره همداسې وکړئ چې خپلوان صحابه کرام يې خپه نشي نو،

کله چې رسول الله بعضو اسيرانو نه فديه واخسته او بعضي يې لکه عقبه ابن معيط ووژل، نو الله جل جلاله د سورت الانفال (۶۷/۶۸) آياتونه نازل کړل چې که چېرته د الله جل جلاله نه دی باره کې فيصله مقدره نوی او تاسو د دنيا فايده خوښه کړی وای نو سخت عذاب به الله جل جلاله درکړی وای.

د دې آيات دنزول نه وروسته رسول الله صلي الله عليه وسلم عمر رضي الله عنه سره مخ شو ورته ويې فرمايل نږدې وه چې ستا د رايې مخالفت سره موږ د شر او عذاب سره مخ شوی وای يعنې ستا رايه د الله جل جلاله د حکم مطابق وه نو، دې آياتونو کې هم د عمر رضي الله عنه رايه همداسې وه لکه څنګه چې حکم نازل شو•.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

• کتابونه .حلية الاوليا .(۴۲-۴۳) اسدالغابة:۱۶۹/۴ ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۸) برخه او د هغه کرامات:

کرامت هغه دعادت خلاف کار ته ویل کېږي چې الله جل جلاله يې د خپل محبوب بنده په واسطه ښکاره کوي.

**اول کرامت:**

کله چې عمر رضي الله عنه خلیفه شوه، نو الله جل جلاله ورته په ډېرو غزاګانو کې لویې فتحې نصیب کړې چې د هغو فتحو څخه یوه يې د افریقائي عربي هیواد مصر فتحه هم وه، مصر د یهودیانو یو له شتمنو هیوادو څخه وو او عمر رضي الله عنه د مصر لپاره عمرو ابن العاص رضي الله عنه سپه سالار ټاکلی وه او دغه فتحه هم د عمرو ابن العاص رضي الله عنه د مشرۍ لاندې مسلمانانو ته نصیب شوې خو چې کله مسلمانانو مصر فتحه کړ، نو د الله جل جلاله امتحانات په مسلمانانو شروع شو هلته رود نیل دریاب وچ شوي وه او دیهودیانو د عقیدې مطابق داسې رواج وو چې کله به رود نیل دریاب وچ شو نو دوی به دې دریاب ته یو ترټولو ښایسته پیغله پیدا کړه او مور پلار به يې ورته په ډېرو پیسو او مال دولت راضي کړو پیغله به يې ناوې کړه نوي قیمتي جامې به يې وراغوستې په ګاڼه به يې خه ډکه کړه بیابه يې دریاب ته وغورزوله خو دا کار دوی هر کال په یوه مخصوصه ورځ کولو دوی کال کې درې میاشتې محترمې ګڼلې د یوې نوم (مؤونه) وه د دې میاشتې دولسم تاریخ به دوی دغه ناوې ضرور پیدا کوله، خو په دې کال چې حکمران مسلمان صحابي عمرو ابن العاص رضي الله عنه وو او هغه دجهالت دغه کارونه منع کړي وو، نو دغه درې میاشتې تیرې شوې خو رود نیل کې اوبه زیاتې نشوې اخر د دې ځای استګنو له دې ځایه نقل مکان ته اراده وکړه چې دغه سرسبزه علاقه به خامخا په شاړه بدلیده، نو د دې ځای والي عمر ابن العاص رضي الله عنه امیر المؤمنین عمر ابن الخطاب ته یو لیک ولیږلو او دغه مشکل يې ورته بیان کړ.

کله چې قاصد دغه اوږد سفر په ډېره بیړه سرته ورسولو او لیک يې عمر رضي الله عنه ته وسپارلو نو عمر رضي الله عنه خوشحاله شو، چې د ده مقرر شوی والي ورسره دخلکو ستونزه شریکه کړه او په خپل ولس او ماتحت دومره مهربانه دی نو،

سمدستي يې جوابي لیک ولیکلو او ویې لیکل دغه لیک دالله جل جلاله د بنده امیر المؤمنین عمر ابن الخطاب لخوانه دمصر والي عمرو ابن العاص او مسلمان ولس ته زه تاسو ته دتقوی او صبر توصیه کوم تاسو باید دجهالت خویونه پریږدئ اوبه دالله جل جلاله مخلوق دی او انسان اشرف المخلوقات دی، نو تاسو دمخلوق لپاره اشرف المخلوقات ولې قرباني کوئ، صبر وکړئ ډېر زر به الله جل جلاله دربانديې فراخي راولي او دلیک اخر کې يې لیکلي وو، چې ای عمرو ابن العاص رضي الله عنه دې لیک سره یوه وړوکې ټوټه خط دی دا به رود نیل ته ور وغورزوې.

کله چې قاصد بیرته مصر ته ستون شو او لیک يې عمرو ابن العاص رضي الله عنه ته ورسولو دجمعې مبارکه ورځ وه او هغه سمدستي لیک پرانستو نو له لوستلو وروسته يې هغه وړه ټوټه خط را واخستو او هغې کې ئې لیکلي وو، چې دعمر ابن الخطاب لخوانه رود نیل ته. دالله جل جلاله دثنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفت نه وروسته ای نیله که ته په خپل امر او حکم بهیږې، نو مه بهیږه مونږ ته ستا هیڅ ضرورت نشته او که ته د الله جل جلاله په امر او حکم بهیږې نو زه فقط خپل الله جل جلاله ته سوال کوم چې تا روان کړي.

نو عمرو ابن العاص دغه خط له لوستلو بعد سمدستي د خالي په شپه رود نیل ته ور وغورزولو سهار ته چې خلک له خوبه را پورته شول گوري چې رود نیل ډک بهیږي او تقریبا یوه شپه کې اوبه شپاړس گزه را پورته شوې وې، نو دې سره دغې ځای مسلمانان دهمېشه لپاره د نیل د وچیدلو له مشکل خلاص شول او دادی (۱۴۰۰) کاله بعد هم هماغسې موجونه وهي[•].

### د عمر رضي الله عنه دوهم کرامت:

⇦ دعلي ابن ابی رضي الله عنه نه روایت دی: یوه ورځ امیر المؤمنین عمر رضي الله عنه خطبه ویله چې نا څاپه یې وویل :(یاساریه ابن الحسن الجبل الجبل) نو د دې خبرې په اوریدلو سره صحابه کرامو یو بل ته وکتل خو ؛ علي رضي الله وویل (صدقت) تا رښتیا وویل

نوټ: ساریه د مجاهدینو یو ټولي ته وایي بل روایت کې ساریه ابن الحسن دهغوی مشر وو چې عمر رضي الله د یو ځای فتح کېدلو ته لیږلی وه کله چې عمر رضي الله له خطبې فارغ شو نو علي رضي الله عنه ترې پوښتنه وکړه چې تا دا الفاظ چاته وویل عمر رضي الله عنه ورته وویل ایا ما همداسې وویل هغوی ټولو ورته ویل چې هو تا وویل؛ نو عمر رضي الله عنه وویل زما زړه کې دا خبره واچول شوه چې هغه مجاهدینو نږدې وه، چې ماتې خوړلې وای، کوم چې ماليږلي وو او دیو غره نه لاندې راروان وو کافرانو غوښتل د شا له خوانه غره ته وخیژي او له پاسه وربانده حمله وکړي، کله چې دوی لاندې وي د مقابلې توان به ونلري او ټول به شهیدان کړي نو ځکه مې غږ وربانده وکړ، چې غره ته وخیژئ مخکې لدې نه چې کافران حمله پرې وکړي.

علي رضي الله عنه وویل: په الله جل جلاله قسم همداسې به کېږي لدې خبري یوه میاشت بعد د هغه مجاهدینو صحابو خبر رسان راغی او یې ویل مونږ لږ وو او کافران بیخي زیات وو، مونږ د ځان بچ کولو کوښښ کولو او د غره له خواه سره راروان وو چې د امیر المؤمنین اواز مو واوریدلو نو سمدستي غره ته پورته شو له هغه ځایه مو ولیدل چې کافران خاطر جمع د غره خواته راروان دي مونږ ورته پټ شو کله چې د غره خواته راورسیدل له پاسه مو وربانده حمله وکړه تر څو چې هغوی ځان سمبالوو مونږ ټول له تیغه تیر کړي وو، چې د دې اواز په برکت مونږ ته الله جل جلاله فتحه نصیب کړه بې له وسایلو دیوې میاشتې لرې مسافت کې اواز رسیدل دې ته کرامت وایي[•]:

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

---

[•] اسدالغابة، حیاة الصحابه، حلیة الاولیا

[•] اسدالغابة :۴/۱۶۲_۱۶۳، البدایه النهایه :۷/۱۳۰_۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۹) برخه:

### د الله جل جلاله ولي جوړیدلو لپاره شرطونه :

۱- (د قرآن)مکمل علم.

۲-(د حدیثو مکمل علم)باید ولري.

۳-زناکار نوي.

۴- سودخور نه وي

۱۰- ښځوسره به خلوت کونکی نه وي.

۱۱- بل څوک به هم نه پریږدي چې څوک ورته سجده ولګوي.

۱۲- ساز او سرود اوریدونکی او خوښونکی به نه وي.

۱۳- دین کې نوی کار پیدا کوونکی به نه وي.

۱۴- درباري به نه وي.

۱۵- دروغجن به نه وي.

۱۶- کوډګر جادوګر به نه وي.

۱۷- خور او لور باندې ولور آخستونکی او د هغې روپیو خوړونکی به نه وي.

۱۸- شراب خور به نوي.

۱۹- غیبت کوونکی به نوي.

۲۰- مسلمان ته به کافر ویونکی نوي.

۲۱- خپل عورت پټوونکی به وي.

که دغه پورته ګناهونو کې یو یا ډیرو باندی ککړ وي او کوم دعادت خلاف کار ترې صادر شي دا کرامت ندی استدراج دی ولي ورته ویل ګناه کبیره ده.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۱۰) برخه:

### کرامت زړه سوی او د خپل رعیت سره مینه:

کله چې د مصر رودنیل ډک روان شو ابادي بیرته برحاله شوه هرڅه سرسبز او شاداب شول نو دالله جل جلاله امتحان وو دعربو جزیره کې قحط راغی، ډیره موده باران ونه شو دې ته عربي ژبه کې دې کال ته {عام الرمالة} نوم ورکول شو، چې په هر څه باندې ګردونه او شګې پرتې وې نو یوه ورځ عمر رضي الله عنه غوښتل چې خپله سورلۍ باندې چېرته ولاړ شي؛ خو چې کله طبیلې ته ورغی ګوري چې آس یې وربشې خوري نو ویې ویل ښه زما رعیت له لوګی مري دخوراک لپاره څه نه لري او زما آس وربشې خوري قسم دی تر هغې به وربانډې سورلي ونکړم چې تر څومې ټول رعیت نوي موړ کړی بیا یې دمصر والي عمروابن العاص ته لیک واستولو او ورته یې وویل که تاسره دخپلو خلکو د ضرورت نه زیات دخوراک لپاره څه وي مونږ سره کومک وکړه کله، چې عمروابن العاص ته لیک ورسیدو نو سمدستي یې شل بیړۍ دخواراکي توکو ډکې دسمندر په لاره راولیږلې او زر اوښان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بارد وچې په لار راولیږل چې هغې کې سل اوښان د حلال والي لپاره وه چې کله به مال راورسیدو د شپې راتلو نه وړاندې به په خلکو تقسیم کړل او هغه سل اوښان یې پخپل مبارک لاس ذبحه او تقسیم کړل.

دې کې داسې ډیرې شپې او ورځې اوده نشو، نو صحابه کرامو ورته وویل یا امیر المؤمنین ته خو نه اوده کیږې دا خو ډیره سخته ده نو عمر رضي الله عنه په ژړا شو او ورته یې وفرمایل:

⇦ که دورځې اوده کیږم نو د رعیت حقوق مې پایمالیږي او که د شپې اوده کیږم د الله (ج) عبادت رانه پاتې کیږي څه وکړم بلـه دا چې دې وچکالۍ ته ورخطا یم یوه ورځ یې ټولو صحابه کرامو ته وعظ وکړو ورته یې وویل تاسو استغفار ته زیاتوالی ورکړئ او نور په ژړا شو ویې ویل یا الله جل جلاله په خلکو، مالونو، مرغانو، بوټو ونو او فصلونو رحم وکړه او اوږده دعا یې وکړه ترهغې چې دده ژړا سره ټول مسجد ژړا ونیوه لږه شیبه چې دوی لا دعا کوله دباندې دباران شرقار شو خلک له خوشالۍ له مسجد دباندې راووتل

دومره باران وشو قحط سالي ختمه شوه ابادي راغله هر خوا وابه راشنه شول فصلونه وشول ونو ښې ډیرې میوې او قجورو قجورې ونیولې، ترهغې چې خلکو د شکرانې لمونځونه وکړل.

⇦ یوه ورځ د روم بادشاه یو قاصد راولیږلو چې مسلمانانو سره د صلحې یا جزیې خبرې وکړي او بله دا ورته معلومه شي، چې د مسلمانانو بادشاه څرنګه سړی دی دومره روب داب او ویره لري چې کافران په خپلو ملکونو کې ترې د شپې خوب نشي کولای هغه چې کله مدینې ته راغی پوښتنه یې وکړه ستاسې بادشاه چیرته دی زه د روم نه راغلی یم ضرور کار ورسره لرم هغوی ورته وویل موږ بادشاه نلرو امیر المؤمنین لرو هغه د مدینې بهر چیرته وتلی رابه شي قاصد ورته ویل ما ته یې راپیدا کړئ ځو تنان ورسره روان شول او ورپسې ګرځیدل چا ورته وویل هلته د قجورو باغ کې دی دوی چې ورغلل ګوري چې امساء یې سر لاندې ایښودې ده او مبارک مخ باندې یې خولې بهیږي، کله چې هغه قاصد وکتو وی یې ویل قسم دی چې همدا صفات زمونږ کتاب کې لیکلي داسې عادل انسان به وی چې لباس خوراک هیڅ شي کې به یی له نورو خلکو تفاوت نه وي داسې عادل به وي چې خلکو ته به یی مثالي امن راوستی وي چې څوک له الله (جل جلاله) ویره لري داسې بیغمه خوب به بی له ډاره خپله هم کوي او رعیت به یې هم داسې په امن وي بیا عمر رضي الله عنه له خوبه راپاڅیدو هملته یې خبرې ورسره وکړې بیا هغه د تللو په وخت وویل زړه مې غواړي همدا اوس مسلمان شم زمونږ قانون کې داسې کار خیانت بلل کیږي زه به اوس لاړ شم بیا رازم او مسلمانیږم او همداسې یې وکړل خو کله چې یې روم کې خپلو خلکو ته د عمر رضي الله عنه حالات بیان کړل ډله ډله خلک به راتلل او اسلام به یې راوړلو[•].

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

---

[•] حکایة الصحابة ج اول۵۳ صبح حلیة الاولیاء ۴/ص/۶۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۱۱) برخه:

### د شپې د خپلو خلکو د احوال معلومول:

عمـر رضـي الله عنـه دابـوبکر رضـي الله څخـه وروسـته خلیفـه شـو صـحابه کرامـو بـه ورتـه خلیفـه، خلیفـه رسول الله یعنی د الله جل جلا له د رسول صلی الله و سلم د خلیفه خلیفه ویل.

خـو بعضـو صـحابه کرامـو تـه دا پوښـتنه پیـدا شـوه چـې بـل څـوک چـې خلیفـه کېـږي نـو داد خلیفـه نـوم بـه ډیـر اوږد شـي نـو ټولـو فیصـله وکـړه چـې مـونږ مؤمنـان یـو او عمـر رضـي الله عنـه مـو امیـر دی نـو امیرالمـؤمنین به ورته وایو نو له دې وروسته اول نوم شو چې عمر رضي الله ته ورکول شو.

د عمـر رضـي الله عنـه پـه لاس یـوه ګوتـه وه پـه هغـې لیکـل شـوي وو، ترجمـه یـې دا سـې وه مـرګ تـر ټولـو غوره نصیحت دی.

او عمـر رضـي الله بـه همیشـه خلکـو تـه ویـل چـې تاسـې ترټولـو ذلیـل خلـک وئ چـې د بتـانو عبـادت بـه مـو کولو،

⤻ الله جل جلاله د رته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم را ولیږلو ورباندی عزتمند شوئ.

⤻ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي عمر رضي الله عنه د جنتیانو رڼا ده په جنت کې.

⤻ بـل حـدیث شـریف کـې د حجـة الـوداع پـه ورځ رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم و فرمایـل الله تعـالی د عرفات په ورځ په ټولو مسلمانانو فخر کوي خو په عمر رضي الله عنه خاص فخر کوی.

⤻ بـل حـدیث کـې ابـوبکر رضـي الله عنـه فرمـایلي چـې مـاد رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم نـه اوریـدلي دي چې که زما نه بعد نبي راتلای نو عمر رضي الله به وو.

⤻ بـل حـدیث شـریف دي چـې رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم فرمـایلي د عمـر رضـي الله عنـه نـه پـه بهتـر سړي لمر ندی راختلی یعنی بل بهتر تری د نیا کې نشته.

نو لدې څخه د عمر رضي الله بهتروالی معلوم شو•.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۲) برخه:

### قسم په خدای زه د دین په کار کې د (کوچو) نه زیات نرم یم.

د عمـر رضـي الله د ډیـرې مینـې پـه خـاطر چـې د دیـن سـره یـې لرلـه او د الله جـل جلالـه لـه ویـرې یـې د شـپې بـه ګرځیده او د خپل رعیت احوال یې معلومول خپل عادت ګرزولی وو.

یـوه شـپه پـه همـدې خـاطر لـه کـوره وتلـو د مـدینې کوڅـو کـې ګرځیـدو چـې یـو کـور کـې یـې د ماشـومانو د ژړا اوازونـه واوریـدل لـه دروازې یـې ور وکتـل ګـورې چـې پـه اور کتـوی ایښـې څـه شـی پکـې نشـته او اور تـرې لانـدې بـل دی، او ماشـومان خپلـې مـور تـه وایـې زر شـه مـوږ وږي یـو خـو مـور ورتـه وایـې تاسـو اوده شـئ چـې ترکـاري پخـه شـي تاسـې بـه راپـاڅوم، خـو هغـوی نـه اوده کېـږي اخـر ډیـر وخـت ووتـو چـې معمـولا

---

• 1 حلیة الاولیاء ۴۷/۱،، 2 مجمع الزواید ۷۴/۹، 3 اسدالغابة ۱۶۳/۴ ، 4 مسنداحمد۴ /۱۵۴، 5 ترمیذی ۳۶۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر کاري دومره وخت کې پخیږي، خو عمر رضي الله عنه انتظار دی چې څه کېږي خو انتظار اوږد شو نو،

او از یې ورته وکړو خوری؟

دا ماشومان ولې ژړوې ماړه یې کړه چې اوده شي.

هغې ورته وویل په څه شي یې ماړه کړم؟

عمر رضي الله عنه ورته وویل ولې دیگ کې څه شی دي؟

هغې ورته وویل تشې اوبه مې پکې اچولې چې ویې وغولوم او اوده شي.

کور کې د خوراک څه نشته بس د عمررضي الله او زمونږ ترمنځ الله جل جلاله شته، عمر رضي الله ورته وویل نو عمر ته څه معلومه ده؟

هغې ورته وویل څنګه امیرالمؤمنین دی چې د خپلو مؤمنانو له احواله ندی خبر؟

عمر رضي الله په ژړا کورته راغی زر زر یې قجورې، وړه، وازده او نور لباس بوری کې واچول دومره شول چې اوچتولی یې نشو خپل غلام اسلم ته یې اواز وکړو اسلمه زر دلته راشه دا بوری زما په اوږه کېږده اسلم په منډه راغی ورته یې وویل نه نه امیرالمؤمنیه زه د څه لپاره یم امر کوه چېرته یې یوسم؟

عمر رضي الله عنه ورته وویل نه زه یې خپله وړم ایا ته الله جل جلاله ته د عمر له خوانه جواب ویلی شی؟

نو اسلم ورته بوری په شا کړه هغې کورته ورغی غږ یې ورته وکړو خورې لږ د خوړلو شیان مې راوړي زه درتلای شم؟

هغې ورته وویل ولې نه وروره راشه.

عمر رضي الله دننه ورغی او هماغه کټوی کې یې وازده، وړه او قجورې واچولې او پخپله لګیا شو اور ورپسې بلوي اسلم وایې ما ولیدو چې مبارکه ګڼه ګیره کې یې لوګی اخوا دیخوا وتو راوتو تر څو یې خواړه تیار کړل او کټوی یې راکوزه کړه پخپل مبارک لاس یې ماشومانو ته خوله کې خواراک ورکولو تر څو خه ماړه شول نور یې بس کړه نو،

بیا یې لوبی ورسره شروع کړې دغوی چیلې به یې را اخستل په څلورې به روان شو، تر څو چې ماشومان دده په دې کار په خندا شول او هغه ښځه ورته لګیا ده دعاء کوي الله جل جلاله دې د عمر په ځای تا د مسلمانانو خلیفه کړي، خو پیژني یې نه چې همدا عمر رضي الله عنه دی.

عمر رضي الله عنه چې ماشومان په خندا ولیدل خوشحاله شو تندی یې وځلیدو له هغه کوره راووتو لاره کې یې اسلم چې غلام یې وو ته وویل چې ته پوهیږې ما ولې ماشومانو سره لوبی کولی؟

هغه ورته ویل زه هم ستا دی کارته حیران وم-

عمر رضي الله عنه ورته وویل ما ماشومان وږي لیدلي وو ماړه مې کړل خو په ژړا مې هم لیدلي وو، نو ځکه مې کوښښ وکړو چې په خندا یې هم ووینم نو ومی خندول.

عمر رضي الله عنه ډیر زیات مهربانه وه چې هر چا سره به یې د دین دغوښتني مطابق چلند کولو.

یوه ورځ دیو مسلمان او یهودي لانجه ورته راغله دواړو خپله دعوه بیان کړه خو یهودي په حقه وو نو عمر رضي الله دیهودي په حق کې فیصله وکړه نو یهودي وویل قسم دی ربښتینی امیرالمؤمنین یې نو عمر رضي په دوره یا قمچینه ووهلو چې ته څنګه پوهیږې چې زه ربښتینی یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغــه ورتــه ویــل چــې ســتاټول کــړه وړه عادتونــه زمــوږ کتــاب کــې لیکــل شــوي دي او داســې یــې هــم لیکلــي چې ته به عادل هم یې او ستا هرې خوا ته به ملایکې ستا کومک کوي او تا به حق ته راکش کوي.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۱۳) برخه:

### د عمر رضي الله عنه زړه ولی له کوچو نرم او ترکاڼي کلک وو:

علــي (رض)، عثمــان (رض)، طلحــة (رض)، زبیــر (رض)، ســعد (رض)، او عبــد الرحمن ابــن عــوف رضــي الله عــنهم ټــول راجمــع شــول چــې عمــر رضــي الله تــه ووایــې چــې دا ډیــره ســختي پریــږده؛ خــو ټــول ویریــدل چــې څنګــه ورتــه ووایــې چــا جــرأت نشــو کــولای؛ خــو دوی کــې عبــد الرحمن ابــن عــوف رضــي الله عنــه جــرأت منــد وو او د عمر رضي الله عنه دوست هم وو هغه ته یې وویل ته لاړشه ورته ووایه.

عبــد الرحمن ابــن عــوف رضــي الله ورغــی ورتــه یــې وویــل یــا أمیر المؤمنینــه ســتا روب داب ویــری او ســختئ پــه خلکــو ډیــر اثــر کــړی بعضــي خلــک تاتــه د کــوم ضــرورت پــه خــاطر راشــي او غــواړي تاتــه خپــل ضــرورت وړانــدې کــړي؛ خــو ســتاله ویــرې تاتــه اظهــار نشــي کــولای او د هغــوی ضــرورت او مشــکل حــل نشي بیرته ولاړ شي.

نــو کــه تــه دا ډیــره ســختي پریــږدې چــې خلــک وکــولای شــي ي تاتــه خپــل مشــکلات ووایــې او تــه یــې حــل کــړی نــو، عمــر رضــي الله عنــه ورتــه وویــل ســتا دې پــه الله جــل جلالــه قســم وي چــې تاتــه د غــه خبــره علــي، عثمان، طلحة، زبیر، او سعد نده کړې؟

عبــد الرحمن رضــي الله عنــه وفرمایــل چــې هــو هغــوی راتــه ویلــي خــو زه همــدا اوس لــه هغــوی راغلــم او هغوی هلته انتظار ناست دي بل ځوک لدې خبرې خبر ندي ته څنګه خبر شوې؟

عمر رضي الله عنه ورته څه ونه ویل، خو په ژړا شو.

عبــد الرحمن ابــن عــوف پــوه شــو چــې دا د ده کرامــت دی بیــا عمــر رضــي الله عنــه ورتــه وویــل قســم پــه الله جــل جلالــه چــې زه دومــره نــرم شــوم چــې اخــر لــه الله جــل جــلا لــه وویریــدم چــې دومــره نرمــي هــم نــده پکــار بیــا ســخت شوم خو بیاهم له الله جل جلاله وډار شوم چې دومره سختئ باندې الله جل جلاله ناراض نشي.

بیــا یــې وفرمایــل عبد الرحمانــه قســم پــه الله جــل جلالــه زمــا زړه د دیــن پــه خــاطر دومــره نــرم شــو چــې لــه کوچــو هــم زیــات نــرم شــو او بیــا د دیــن پــه خــاطر دومــره ســخت شــو چــې لــه کــاڼي هــم زیــات ســخت شــو نــو تــه ووایــه چــې زه څــه وکــړم دا د دیــن کارونــه همداســې دي چــې د ســختئ ضــرورت وي ســختي پکــار ده چــې د نرمــۍ ضــرورت وي نرمــي پکــار ده، نــو عبــد الرحمن ابــن عــوف تــرې پــه ژړا را ووتــو او لاســونه یــې یــو پــه بــل ســره وهــل او ویــل یــې ای عمــره تــا خــو راتلــونکي خلیفګــان پــه مشــکل کــې واچــول چــې تــه نــه پــوهیږې چــې سختي وکړم که نرمي نو بل به څوک وي چې لتا زیات څه تعامل وکړي.

عمــر رضــي الله عنــه بــه همیشــه داســې فرمایــل د دیــن د کــار لپــاره ســختي ضــروري ده، خــو دومــره هــم نــه چــې له ځانه جابر جوړ کړې او نرمي هم پکار ده خو دومره هم نه چې بیا دې حیثیت ختم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر رضي الله عنه به چې کله مسجد کې وعظ وکړو او بيا به يې کور ته تشريف ويوړو نو خپل د کور خلکو ته به يې فرمايل تاسو خو زما خبرې واوريدلې قسم دی چې کوم کار نه مې خلک منع کړي او تاسې هغه وکړئ، نو تاسې ته به له نورو خلکو دوچنده سزا درکوم.

رسول الله صلی الله عليه سلم فرمايلي دي چې زما دامت څخه د دين په باره کې ترټولو سخت عمر رضي الله عنه دی•.

❁❁❁❁❁

## د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۴) برخه:

### پخوانيو اسماني کتابونو کې د عمر رضي الله ذکر:

اميرالمؤمنين عمر رضي الله عنه کورته تشريف ويوړو ګوري چې {أمّ کُلثُوم بنت علی ابن ابي طالب رضي الله عنهما}، چې بي بي وه په چغوچغو ژاړي.

عمر رضي الله عنه وارخطا شو زر ورغی غيږ کې يې ونيوله ورته يې وويل ولې څه پيښه شوې کوم مصيبت راغلی هله زر وايه هغې مبارکې په ژړا کې ورته وويل،

دغه يهودي راته دغم خبره کړې هغه {کعب الاحبار} ديهودو عالم ؟

عمر رضي الله ورته وويل زر وايه هغه څه ويلي؟

أم کلثوم رضي الله عنها وويل هغه وايې چې ستا خاوند اميرالمؤمنين د دوزخ په غاړه ولاړدی او داخبره زموږ کتاب کې ليکلې ده.

عمر رضي الله ورته وويل ماشاء الله نو ته دې خبرې ته دومره په چغو ژاړې؟

خو زما ګومان دی چې زه الله جل جلاله نيکبخته پيدا کړی يم.

بيا يې د {کعب الاحبار} دراوستلو امر وکړو -کعب الاحبار چې کله راوستل شو او عمر رضي الله عنه له ويې او دهشت ډکه څهره يې وليدله وارخطا شو او ويې ويل يا امير المؤمنين چالاکي او بيړه به رابانديې نه کوې -ته اول زما خبره واوره زما دی په الله جل جلاله قسم وي ته به دهمدې مياشتې اخر کې جنت کې وې.

عمر رضي الله عنه ورته موسکی شوه ورته يې وويل ماشاءالله لکه ته دجنت ټيکدار يې لږ مخکې دې ويلې چې زه د دوزخ په غاړه ولاړ يم اوس وايې د دې ذالحجې اخر کې به جنت کې يې دا لا کوم حکمونه دي چې ته يې کوې؟

{کعب الاحبار} ورته ويل هو زموږ کتاب کې ستا دټول عمر علايم ليکل شوي دي او هغې کې ليکل شوي چې ته کله خليفه شې؛ نو د مسلمانو فتحې به دومره زياتې شي چې د دنيا شرق غرب شمال جنوب ته به ورسيږي او ستا مثال داسې دی، لکه ته چې د دوزخ په غاړه ولاړ وې او په دواړه لاسه خلک له دوزخ منع کوې خلک په کثير تعداد کې دوزخ ته روان وي چې تا ګوري بيرته به را واپس کېږي يعنې په خپله خوښه به مسلمانيږي او کوم چې د دوزخ غاړې ته در رسيږي ته به يې په زور او

---

• طبقات الکبری ۳/۲۱۸-۲۱۹-۲۲۰، حلية الاولياء۱/۵۰-۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوت منع کوی؛نو ما داسې ندي ویلي چې ته دوزخي یې داسې مې ویلي چې ته د دوزخ په غاړه ولاړ یې.

بله خبره ستا د جنت ته دتللو پکې د همدې ذالحجې اخر لیکلی خو چې ته وفات شې بیابه خلک تر قیامته پورې چې کافران وي دوزخ ته به روان وي.

بیا عمر رضي الله عنه رښیاهم په هماغه میاشت کې وفات شو.

➥ یوه شپه عمر رضي الله عنه د شپې اخره حصه کې د خپل عادت مطابق ګشت کولو چې دیو کور نه د مور او لور اوازونه راغلل مور ورته وایې لورې نن غوا شیدې لږ وکړل اوبه ورګډې کړه، چې زیاتې شي چې خرڅې یې کړو،

لور ورته وویل مورې دا کار امیرالمؤمنین منع کړی ندی؟

مور یې ورته وویل نو امیرالمؤمنین ته څه معلومیږي چې تا اوبه ورګډې کړي؟

لور ورته وویل نو که امیرالمؤمنین مونږ نه وینې نو الله جل جلاله خو مو ګوري زه دا کار نشم کولای نو امیر المؤمنین چې دهغې تقوی ولیدله ډیر خوشحاله شو یو روایت کې دي چې بیا یې خپل ځوی ته په نکاح کړه•.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۱۵) برخه:

◆ عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه فرمایی چې دقبایلو بعضي خلک مدینې منورې ته راغلل چې خپل ضرورتونه امیرالمؤمنین ته مخکې کړي، نو ناوخته راورسیدل او د مدینې منورې اطرافو کې یې خیمې ووهلې نو عمر رضي الله عنه خبر شو او ماته یې وویل که خوښه دې وي چې ما او تا نن شپه وربانديې پهره یا څوکیداري وکړو ځکه چې دغه خلک له لرې علاقې او اوږد سفر نه راغلي ستومانه دي چې دوی ارام وکړي مونږ به ورته ووایو چې تاسې بیغمه خوب وکړئ او څوک ترې غلا ونکړي،

عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه فرمایی ما ورته وویل خوښه مې ده نو دواړو اودسونه وکړل یو خواته زه ترینه چې دخطرې امکان وو په لمانځه لګیا شوم چې هم به عبادت وکړم او هم پهره اوبل خواته امیرالمؤمنین شو،

لږ وخت بعد له یوې خیمې دماشوم د ژړا اواز راتلو خو خبره اوږده شوه هغه نه غلی کیدو نو امیرالمؤمنین ورغی ورته یې وویل خورې دا ماشوم ولې ژاړي غلی یې کړه هغې لږ وخت لپاره غلی کړو خو بیا په ژړا شو او عمررضي الله عنه بیا ورغی چې ماشوم غلی کړه، خو همداسې دا کار تر اخرې شپې پورې جاري وو اخر کې بیا عمر رضي الله عنه ورغې ورته یې وویل ته خو ډیره بده مور یې هیڅ دې زړه کې رحم نشته،

هغې ورته وویل وروره زه لتا ډیره تنګه شوم بیابیا راځې نو ستا زماسره څه کار دی،

---

• حیاة عمر ۱/ ۳۲۷-۳۲۸، طبقات الکبری ۳/ ۲۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دغه ماشوم له تي رودلو منع کړی شوی نه ورکوم ځکه چې امیرالمؤمنین تي خورو ماشومانو ته د بیت المال نه خوراکه نه ورکوي او مونږ صباته ترینه د کومک غوښتلو لپاره راغلي یو، نو چې مونږ ته کوم امداد راکوي د دې ماشوم برخه به هم راکړي زه بیا نشم راتلای مونږ له لرې علاقې راغلي یو لږه موده بعد به ماشوم له تي رودلو منع کوم نو اوس مې منع کړو،

نو عمر رضي الله عنه ورته وویل ګرانې خورې ماشوم ته شودې ورکړه زه ستا ضامن یم عمر رضي الله عنه به ستا دبچي لپاره خپل فرمان بیرته واخلي او تا ته به پوره نفقه مقرر کړي هغې ماشوم ته شودې ورکړې ماشوم غلی شو صباشوی هم وو عمر رضي الله عنه او عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه مسجدته راغلل لمونځ ته عمر رضي الله مخکې شو؛ خو لمونځ کې یې ژړل له ژړا له وجې یې له سینې مبارکې اواز نه راوتل، چې لمونځ اداء شو امیرالمؤمنین ممبر ته پورته شو ویې فرمایل هلاکت دی دعمر لپاره څومره ماشومان به له لوږې مړه شوي وي څومره ماشومانو به ژړلي وي زه به الله جل جلاله ته څه جواب ورکوم نو ریې وفرمایل له نن نه بعد زه دبیت المال خزانچي ته امر کوم چې هر نوي پیداشوي ماشوم ته به پوره نفقه ورکوي او هغه ښځې ته بې هم پوره ورکړه.
ګرانو لوستونکو الله جل جلاله دې مونږته هم داسې زړه سوانده عادل حاکم نصیب کړي.

◆ ابي ابن کعب رضي الله عنه فرمایي چې زما او عمر رضي الله عنه ترمنځ لانجه راغله زما قجورې چا کټ کړې وې ما عمر رضي الله عنه ته وویل ستا د حاکمیت په دوران کې چا زما قجورې چا کټ کړې ته امیرالمؤمنین یې ته یې ضموار یې هغه انکار وکړو ما ورته وویل راځه ستا په قاضي به فیصله کوو،

زید ابن حارثه رضي الله عنه قاضي وو، خپل کور کې به یې فیصلې کولې دارالقضاء نه وه جوړه شوې نو دواړه ورغلو اجازه مو واخستله کورته دننه شو؛ خو زید رضي الله عنه یو ساده فرش باندی ناست وو او هغه عمر رضي الله عنه ته پدی خاطر چې امیرالمؤمنین دی اشاره وکړه چې د فرش یوه څنډه باندی ورسره کېني؛ خو عمر رضي الله عنه وربانډې اعتراض وکړو چې دا کار ستابې عدالتي ده ته باید مدعي او مدعا علیه سره مساوي چلند وکړې بیا زید رضي الله عنه د دواړو دعوه واوریدله نو د شرعي مطابق باید دعوه کوونکي شاهدان یاګواهان چې د شاهدۍ ورکولو اهل وي پیش کړي وی ابی ابن کعب سره ګواهان نه وو، نو بیا د شرعي مطابق باید منکر قسم وخوري نو زید رضي الله عنه ابی ابن کعب رضي الله عنه ته وویل زه د قسم خوړلو نه څوک نه بچ کوم او نه په دې باره کې چاته سوال کوم دا یو شرعي حق دی خو تاته سوال کوم چې امیرالمؤمنین له قسم خوړلو معاف کړی.

عمر رضي الله دزید رضي الله عنه پدې خبره هم اعتراض وکړو چې داسې ندي کول پکار که داسې دلیل پیدا شي چې حاکمان له قسم کولو معاف شي بیا به ترقیامته دا کار جاري وي چې دا بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدالتي ده، نو زه قسم خورم او په حقه قسم خوړل هيڅ کومه ګناه نلري نو عمر رضي الله عنه قسم وخوړو او دعوه خلاصه شوه•.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عمر رضي الله عنه د سيرت (۱۶) برخه:

### د مسجد لپاره د مالک بې اجازې د چا ځمکه استعمالول:

◆ دزيد بن اسلم رضي الله عنه نه روايت دی چې عمر رضي الله عنه غوښتل مسجد نبوي صلی الله عليه وسلم فراخه کړي او مسجد سره نژدې ځمکه د عباس ابن مطلب وه، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم تره وو نو عمر رضي الله عنه ورته وويل چې دا ځمکه ما باندې خرڅه کړه.

خو عباس رضي الله عنه انکار وکړو بيا عمر رضي الله عنه ورته وويل چې ماته يې وبښه خو هغه لدې هم انکار وکړو بيا عمر رضي الله عنه ورته وويل ته يې پخپله مسجد ته وقف کړه خو عباس رضي الله عنه نه منله اخر عمر رضي الله ورته وويل دغه دريو کارونو کې به يو درباندې کوم خو عباس رضي الله ورته وويل نه يې شی راباندی کولی اخر دواړو فيصله وکړه چې ابی ابن کعب رضي الله عنه باندې به فيصله کوو دواړه ابی ابن کعب رضي الله عنه ته ورغلل دواړو ورته حقيقت بيان کړو ابی ابن کعب رضي الله عنه عمر رضي الله ته وويل اميرالمؤمنينه ته حق نلرې چې د چاځمکه بې اجازې يا قيمت ورکولو مسجد کې داخله يا مسجد پکې جوړ کړې،

عمر رضي الله عنه ورته وويل تا دا فيصله په کوم دليل وکړه په قرآن که سنت نبوي؟

ابی ابن کعب رضي الله عنه ورته وفرمايل ما په سنت نبوي فيصله کړې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي چې کله سليمان عليه السلام بيت المقدس جوړولو نو، چې ما بنا م به يې کار بس کړو سهار ته به هغه ديوالونه بيرته وران شوي وو؛ نو الله جل جلاله ورته وحې راوليږله چې تر څو دې د دغې ځمکې خاوندان نوي راضي کړې نو تا ته پکې تصرف کول ناروا دي نو سليمان عليه السلام هغوی راضي کړل نو کله چې عباس رضي الله عنه د ابی ابن کعب رضي الله عنه فيصله واوريدله چې د ده په حق کې وشوه نو په خپله خوښه يې ځمکه مسجد ته وقف کړه،

◆ بل روايت کې د سعيد ابن مسيب رضي الله عنه نه همدغه رقم قصه ذکر شوې خو هغې کې فرمايلي چې کله الله جل جلاله سليمان عليه السلام ته وحې راوليږله نو سليمان عليه السلام د هغې ځمکې خاوند را وغوښتلو ورته يې وفرمايل دا ځمکه په ما خرڅه کړه هغه قيمت ورته وښودلو نو سليمان عليه السلام قيمت ورته اداء کړو نو هغه سړي ترينه پوښتنه وکړه زما دغه ځمکه ښه ده که دغه روپۍ. سليمان عليه السلام ورته وويل ځمکه ښه ده ځکه مسجد پرې جوړوم هغه سړي انکار وکړو چې نه يې خرڅوم سليمان عليه السلام ورته قيميت زيات کړو هغه بيا پوښتنه وکړه چې دغه ډېل قيمت ښه دی که ځمکه؟ سليمان عليه السلام ورته وويل ځمکه هغه بيا انکار وکړو همدا سې د هغه سړي پوښتني زياتې شوې او قيمت هم څوچنده شو اخر کې سليمان عليه السلام ورته وويل دغه څوچنده

---

• ابن عساکر ـج ۴: ۱۲۴ ص، بيهقی ـج ـ۲ـ ۲۷۰ ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیمت واخله خو بیابه دا پوښتنه نکوي چې ځمکه ښه ده که روپۍ. نور دې دا پوښتنې بس کړه کنه په زور یې درنه اخلم نو الله جل جلاله ورته وحې راولیږله چې ای سلیمان علیه السلامه که ته دغه نفرته د خپل لاس د مزدورۍ نه او خپل رزق نه قیمت ورکوې خو ته پوی شه او ستا کار که ته یې د الله جل جلاله د درکړل شوي مال نه ورکوې نو تر څو چې راضي شوی نه وي دده ځمکه کې مسجد نشې جوړولای نو سلیمان علیه السلام هغه نفرته ترهغې روپۍ. ورزیاتولې ترڅو یې راضي کړو نو ابی ابن کعب رضي الله عنه ورته وفرمایل ما دغه خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی نو عمر رضي الله عنه وویل تیک شوه زه تري تیر یم ترڅو چې دعباس رضي الله عنه خوښه نوي نه یې مجبوروم،

نو چې کله عباس رضي الله عنه د ابی ابن کعب رضي الله فیصله واوریدله ویې ویل ما خپله ځمکه د مسجد لپاره وقف کړه نو په دې لانجه کې حکمت داوو چې راتلونکې مسلمانانو ته پکې یو صریح حکم پلاس ورغی او لدې معلومه شوه هغه خلک چې پردې ځمکې غصب کړې بیا پکې مسجد جوړ کړي باکل ناروا دی لمونځ پکې نه کیږي بل دا خبره واضحه شوه چې عمر امیرالمؤمنین وو خو دیو ادنی قاضي فیصله یې ومنله او زور او قوت یې استعمال نکړو[•].

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت او عدالت (۱۷) برخه:

◆ کله چې عمر ابن العاص رضي الله عنه افریقایی شتمن او تاریخي هیواد مصر فتحه کړ؛ نو دې فتحې کې ورسره د امیرالمؤمنین ځامن عبدالله او عبدالرحمن ابن عمر رضي الله عنهم هم شریک و،؛ خو عبدالرحمن ابن عمر رضي الله عنه یو بل نفر چې سروعه ابن عتبه بن حارث نومیدو غلط کړو او شراب یې وربانديې وڅکل چې شپه تیره شوه نو؛ عبدالرحمن رضي الله عنه، عمرو ابن العاص رضي الله عنه ته چې دمصر حاکم وو ورغی ورته یې وویل چې مونږ دواړو یو قسم شراب څکلي مونږ دواړه پاک کړه یعنی حد راباندې جاري کړه، عمرو ابن العاص رضي الله عنه ورته وویل صبا ته راشئ نو عبدالرحمن رضي الله عنه کورته روان شوه لاره کې یې ورور عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ولیدو ورته یې وویل ما بیګاه شراب څکلي او مست شوی یم نو عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ورته وویل ښه کار دی ندی کړی؛ خو چاته ونه وایې راځه کورته زه به سر دربانديې (ګلْ) یا وخریم او په درو به دی هم ووهم پاک به شې خو ډیره د شرم خبره ده چې خلکو ته معلومه شي چې دامیرالمؤمنین ځوی شراب څکلي عبدالرحمن رضي الله ورته وویل چې ما خو والي صاحب عمرو ابن العاص خبر کړی دی.

نو عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ورته وویل راځه چې سر خو دربانډی (ګلْ) یا وخریم هغې وخت کې د شرابو څکونکې ته هم دري وې هم سر خریل نو سر یې ورته وخریلو او بیا عمرو ابن العاص رضي الله عنه په دورو ووهلو،

---

[•] کنز المال :ج/ ۳/ص/۳۴۵، تاریخ ابن عساکر : ۵ /ص :۶۷۸، تاریخ خلفاء الراشدین :ج/۱ _باب حیاة امیرالمؤمنین

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا خبره دافریقا یې هیواد مصر نه دعربو جزیرې ته را ورسیده او عمر رضي الله عنه خبرشو سمدستي یې لیک ولیکلو او عمروابن العاص ته یې ولیږلو چې زما ځوی ما ته راولیږه که د دورو وهلو په سبب نشي راتلای نو په اوښ کجاوه بار کړه او پکې وایې چوه او ما ته یې راولیږه عمروابن العاص رضي الله عنه ته چې لیک ورسیدو سمدستي یې په اوښ په کجاوه کې بار کړ او مدینې ته یې راولیږلو کله چې مدینې منورې ته راورسیدو عمر رضي الله عنه ورته وویل چې؛ زه دې بیا په دورو وهم نو عبدالرحمن رضي الله عنه ورته وویل ابا جانه زه خو یو ځل وهل شوی یم او حد راباندې جاري شوی بیا مې ولې وهې عمر رضي الله ورته وویل ولې ما تاسو ته باربار ندي ویلي چې په الله جل جلاله قسم چې کوم کار نه ما خلک منع کړي او تاسو هغه وکړئ تاسو ته به دوچنده سزاء درکوم نو اوس را وړاندی شه او بیا یې په دورو ووهلو ،

دا ددې لپاره چې څوک ونه وایې چې امیرالمؤمنین دالله جل جلاله حکم په ځای کول او شریعت تطبیقول له کوره نه شروع کوي دا وو دعمر رضي الله عنه عدالت چې خپل ځوی یې ترټولو زیات ووهلو ،

◆ دانس ابن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې مصر کې یو مصري باشنده د عمروابن العاص رضي الله عنه چې دمصر والي وو ځوی سره د منډې وهلو مقابله وکړه او هغه مصري په منډه کې ترینه وړاندی شو او ټاکلي هدف ته ورسیدو؛ نو دعمروابن العاص رضي الله عنه ځوی ته غصه ورغله چې زه د دومره غټ سړي یعنې والي ځوی یم او ته رانه مخکې شوې؛ نو هغه مصري باشنده یې په قمچینه ووهلو؛ نو هغه مصري باشنده هلته عمروابن العاص ته شکایت ونکړو چې کېدای شي زما فریاد وانه وري؛ نو مدینې منورې ته راغې او عمر رضي الله عنه ته راغې او ورته یې وویل یا امیرالمؤمنین ما تاته پناه راوړې امیرالمؤمنین ورته وویل ما پناه درکړې ووایه چا ظلم درباندې کړی هغه وویل زمونږ دمصر د والي عمروابن العاص رضي الله عنه ځوی راسری منډه ووهله او زه ترې مخکې شوم خو په هغه بده ولږیده او زه یې ډیر زیات په دورو ووهلم دا دی بدن مې وګوره سره د دې چې د مصر نه مې په میاشتو سفر کړی خو بیا هم د وهلو ځایونه تک شنه دي او د وهلو اثارات یې ښکاري.

نو عمر رضي الله عنه، عمروابن العاص رضي الله عنه ته مکتوب ولیکلو ورته یې ولیکل زما دلیک په رسیدو په خپل ځای څوک دیندار نفر مقرر کړه او ته هم راشه او هغه ستا نازولی مغرور ځوی دی هم راوله،

◆ کله چې عمروابن العاص رضي الله عنه ته لیک ورسیدو دحکم تعمیل یې وکړو سمدستي په اوښانو راسپاره شول او ځان یې مدینې منورې ته راورسوو قربان له داسې واکمن چې یو مکتوب باندې له افریقا نه یو والي چې اوس د بادشاحیثیت لري ورته په میاشتو سفر کوي او د امیر اطاعت کوي او ځان رارسوي او قربان له داسې والي چې بیشماره ملکونه یې فتح کړي او داسلام جنډه یې پرې لړولی هیڅ ځان ورته بد نه ښکاري په خوشحالۍ امر ته غاړه ږدي او دمیاشتو سفر کوي خو نه اعتراض کوي نه سرغړونه کوي او نه یې ځوی دراتلو څخه انکار کوي دا ټوله خوبي اسلام کې ده څوک چې اسلام نه خبر وي دغسې د امیر اطاعت کوي کله چې را ورسیدل دواړه امیرالمؤمنین ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ کېناستل، امیرالمؤمنین وفرمایل هغه د مصر مظلوم باشنده را وغواړئ هغه راغی امیرالمؤمنین دره هغه مظلوم ته ورکړه ورته یې وویل وهه یې،

◆ انس رضي الله عنه فرمايي چې هغه یې په وهلو شروع وکړه؛ نو مونږ هم غوښتل چې سم یې ووهي چې بیا دکوم واکمن ځوی داسې غلطي ونکړي او عمررضي الله عنه ورته وویل وهه یې ترڅو یې عقل سرته راشي، انس رضي الله فرمايي چې دومره یې ووهلو چې مونږ نور غوښتل چې بس یې کړي، بیا یې ورته وویل دا پلار یې یعني عمروابن العاص هم پدې سرسر یو څو درې ووهه چې بیا یې ځوی دومره ظلم او بې ادبي ونکړي، هغه مصري ورته وویل یا امیرالمؤمنین پلار یې نه وهم هغه ګناه نده کړې بیا امیرالمؤمنین دواړو ته وفرمایل الله تعالی خو خپل بندګان ازاد پیدا کړي تاسې په کوم دلیل غلامان ترې جوړ کړي؟

بیا یې وفرمایل لاړشئ او خپله وظیفه په احسنه طریقه سرته رسوی چې بیا دچا شکایت رانشي قسم په الله جل جلاله چې د دنیاهرکونج کې څوک راته فریاد وکړي زه به یې واورم او ځان به وررسوم.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله د سیرت مبارکه (۱۸) برخه:

### د جاسوسۍ په تور د مسلمان د وژلو حکم او قتل خطاء

یزیدبن ابي منصور رضي الله عنه فرمايي چې•،

(1) امیرالمؤمنین عمر ابن الخطاب رضي الله عنه یو تن چې- جارود یا ابن جارود نوم یې وو دبحرین امیر یا والي ټاکلی وو هغه یو تن چې ادریاس نومیده پدې تور چې دوښمن ته جاسوسي کوي دښمن ته دمسلمانانو په ضد خطونه لیکي او د مسلمانانو رازونه هم افشاء کوي ووژلو خو چې کله یې سر ترې پریکوو نو هغه چغې وهلې های عمر های عمر های عمر رضي الله عنه،

نو چا امیرالمؤمنین رضي الله عنه ته اطلاع راوړه چې ستا مقرر شوی والي جارود یوتن دشک په بنیاد ووژلو او هغه چغې وهلې چې های عمر های عمر،

نو عمر رضي الله عنه سمدستي لیک ولیکلو او دبحرین والي ته یې زر د راتلو حکم وکړو جارود ته چې کله د امیرالمؤمنین لیک ورسیدلو بې له ځنډه په سورلۍ سپور شو او مدینې منورې ته یې ځان راورسولو،

کله چې امیرالمؤمنین رضي الله عنه ته خبر ورسیدو چې جارود راغی سمدستي یې راوغوښتو کله چې ورته مخامخ کېناستو نو عمر رضي الله عنه نیزه د هغه غاړې ته د هغه د ګیرې لاندې وروړله او ویې ویل ادریاسه زه حاضریم ادریاسه زه حاضر یم،

بیا یې جارود ته وویل ادریاس دې ولې ووژلو هغه ورته وویل چې یا امیرالمؤمنین ماته اطلاع راغلې وه چې ادریاس دښمن ته خطونه لیکل جاسوسۍ شک وربانده وو او د دښمن صف ته د ورتللو اراده یې لرله.

---

•(۱) کنزالعمال ج :۴، ص ۴۱۹ ، ابن راهویةج/۱ :باب خلفاء الراشدین ، (۲) اخرج حاکم ،باب فضیلة امیرالمؤمنین ج/۱ /ص۴۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر رضي الله عنه ورته وویل نبه ته د شک په بنیاد د یو مسلمان وینه تویوې؟
فقط د غلطې ارادې په کولو باندې خلک وژنې؟
په خط او کتابت کولو باندې یو مسلمان قتلوې؟
جارووده ته ماته وو ایه چې څوک داسې شته چې د شر او فساد اراده یې نوي کړې؟
نو غلطه اراده خو ملایکې هم نه لیکي تر څو چې چا بد عمل کړی نوي.
نبه، ته ما د دې لپاره ټاکلی یې چې د خلکو ژوند وژغورې خلکو ته خدمت وکړی د خلکو ستونزې حل کړې او که د دې لپاره چې خپل رعیت ووژنې؟
ای جارودوده که چېرته زما سره دا ویره نوي چې را تلونکې مسلمانان به بیا زما پدې کار عمل کوي او هر څوک به په قتل خطا قصاصیږي نو ما به اوس ستا سر قلم کړی وو.
پاڅه له مخې مې ورک شه بیا داسې کار ونکړې او لاړشه د ادریاس وارثینو ته دیت ورکړه.
هغه والي جارود بیرته بحرین ته لاړو او د مړه شوي وارثینو ته یې سل اوښان دیت ورکړل،
(۲) عطاء رضي الله عنه فرمایي چې عمر رضي الله عنه به هر کال د حج موسم کې خپل ټول والیان او امیران راغوښتل،
بیا به یې اعلان وکړو چې زما د غه حکمرانانو په هر چا ظلم کړی وي را دې شي نو یوه ورځ یې اعلان وکړ، چې هر چا باندې چا ظلم کړی وي ودې وایي ټول مسلمانان غلي شول خو یو تن را پورته شو او ویې ویل چې ما باندې فلانی والي ظلم کړی زه یې سل درې وهلی یم، نو عمر رضي الله عنه هغه والي را وغوښت او د غه نفر ته عمر رضي الله وویل واخله دره او سل درې یې ووهه،
دې وخت کې عمرو ابن العاص رضي الله عنه د مصر والي را پورته شو ویې ویل ای امیر المؤمنینه لږ احتیاط کوه که داسې وکړې نو بیا به تر قیامته ستا د غه کار دیو قانون په شکل چلیږي او یو سنت به جوړ شي ته ماته اجازت راکړه چې زه د غه نفر راضي کړم بیا یې هغه نفر په دوه سوه دیناره راضي کړو یعنې په هره دره دوه دیناره،
بیا عمر رضي الله وفرمایل ما د غه د انتقام قانون د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یاد کړی بیا یې د جلیبیب رضي الله مشهوره قصه بیان کړه، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اعلان کړی وو، چې د چا په ما کوم حق وي را دې شي او خپل انتقام دې واخلي او جلیبیب رضي الله ویلي وو، چې تا زه په دره وهلی وم زه غواړم خپل انتقام واخلم چې دا واقعه به بیا تفصیل سره ذکر کړو•،

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

• {1} کنزالعمال ج 4 صفحه 419
{2} کنزلعمال ج 4 صفحه 421 ،
وذکر ابن جریر فی کتابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه دعدالت (۱۹) برخه:

قتل خطاء او انتقام آخستل،

(1) د حسن ابن علي رضي الله عنه څخه روایت دی، چې په مدینه منوره کې دیوې حاملې ښځې خاوند له څه مودې ورک وو او امیر المؤمنین به خرځ خوراک لباس ور لیږل، یوه ورځ یې د څه ملاحظاتو په خاطر را وغوښتله او څوک یې ورولیږلو چې راشي خو هغې د راتلو نه انکار وکړو،

دوهم ځل یې بیا جواب ور لیږلو، خو هغه ښځه راتلو ته تیاره نه وه،

چاورته وویل ښه خبره داده، چې امیر المؤمنین ته ورشې هغې چغې کړې چې های زمابختـه د امیر المؤمنین زما سره څه کار دی چې ما غواړي،

خو له ویرې له کوره را ووتله، خو لاره کې وربانـدې دبچـي پیـدا کېـدلو دردونه راغلل او دچا کورته ورننوتله او هلته یې ماشوم بې وخته پیدا شو ماشوم دوه چغې وکړې او مړ شو نو، چې کله امیر المؤمنین خبرشو؛ نو ډیر خفه شو او ټول صحابه کرام یې راوغوښتل چې تاسې وواییې چې ما باندې د دې ماشوم دقتل ګناه شته کنه ډیرو صحابه کرامو ورته وویل چې تا باندې هیڅ نشته ځکه تا خو فقط ادب ورکولو لپاره راغوښتې وه،

خو علي رضي الله عنه غلی ناست وو، عمر رضي الله عنه ورته وویل ته خو هم څه ووایه ستاڅه رأیه ده؟

علي رضي الله عنه ورته وویل که چېرته دغه صحابه کرامو له خپل ځانه تاته ویلي وي چې ته ګنهګار نه یې نو دوی په غلطه دي اوکه دوی ستا دخوشحالۍ لپاره داسې وایي نو دا ستالپاره ښه نده،

اصل خبره داده چې تاته خپل رعب معلوم دی خلک لتا څومره ویریږي او زنانه ذات خو هسې هم کمزوری زړه لري،

او دغه ښځې ستاله ویرې له راتلو نه هم انکار کړی نو ځکه، ته باید د دې ماشوم دقتل خطاء دیت اداء کړې، نو عمر رضي الله عنه ته د علي رضي الله عنه رأیه خوښه شوه او ورته یې وویل چې ته دغه دیت ټولو قریشو باندې تقسیم کړه او هغې ښځې ته یې ورکړه،

سبحان الله داسې عدل داسې تقوی او د الله جل جلاله ویرې په معمولي خطاء باندې پخپل ځان فیصله کوي او دیت اداء کوي.

(2) د زید ابن وهب رضي الله عنه نه روایت دی چې یو ورځ امیر المؤمنین رضي الله عنه له کوره راووتلو او ګوتې یې غوږونو کې ورکړې وې لکه چې څوک اذان کوي او چغې یې وهلې ای هغه خلکو چې تاسې عمرته اوازونه کوی زه حاضر یم زه ستاسې فریادونه اورم زه ستاسې های عمره های عمره اواز اورم،

صحابه کرام حیران شول چې امیر المؤمنین باندې څه وشول؟

چا ورته وویل امیر المؤمنین ته دکوم امیر یا والي لخوانه لیک راغلی چې هغوی نه قتل خطاشوی او یو مجاهد سپه سالار یا قومندان یا سرلښکر دا کار کړی هغه داسې وه چې مجاهدینو کافران پسې اخستي وو او هغوی د یو لوی نهر نه اخواته لاړل او مجاهدینو سره داسې اسباب نه وو، چې معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي چې نهر څومره ژور دی چا ورته یو سپین ګیری ضعیف سړی وښودلو چې دغه سړی تجربه لري هغه قومندان یا سرلښکر هغه سړي ته وویل دې نهر ته کوز شه او د دې ژور والی معلوم کړه هغه سپین ګیري ورته وویل زه دا کار نشم کولای ځکه چې سخته یخني ده اوبه واوري پشان یخې دي، نو که زه ور کوز شم مړ کېږم خو هغه سرلښکر ورته وویل چې ته به ضرور دغه کار کوې ځکه چې مونږ ته دهغه اخوا علاقه فتح کول ضروري دي،

اخر یې سړی په زوره اوبو ته ور کوز کړ، خو هغه دیخنۍ تاب ونه لرلو او چغې یې کړې وا عمرا وا عمرا وا عمرا او اوبو ډوب کړو او وفات شو،

نو عمر رضي الله عنه چې لیک ولوستلو زر یې جوابي لیک ولیکلو او هغه سرلښکر قومندان یې راوغوښتلو چې کله قومندان راغی څو ورځې به هغه ورته راغې سلام به یې واچولو خو عمر رضي الله عنه به مخ ترې وګرځولو همداسې یې څو ورځې ورسره وکړل بیا یې راوغوښتلو،

ورته یې وویل ولې دې هغه سړی ووژلو سرلښکر ورته وویل، نو ماخه کړی وای بله چاره نه وه، چې داوبو ژوروالی معلوم کړو نو مجبوری نه مې ورښکته کړو مونږ ته دهغه ځایونو چې اوبو نه اخوا وو، فتحه ضروري وه،

نو عمر رضي الله عنه ورته وویل اوس دې قصاص کوم قصاص ته تیار شه،

سپه سالار ورته وویل نو ته نه ګورې چې مونږ څومره ملکونه فتح کړل او د اسلام بیرغ مو وربانده ودرولو اوس ته ما په یوه خطا قصاصوې او زما دملکونو فتحو ته نه ګورې؟

عمر رضي الله ورته وویل الله جل جلاله ته داسې فتحې ندي قبولې چې د یو مسلمان ناحقه قتل پکې وشي څوک په ناحقه ووژل شي،

الله جل جلاله ته تر هرڅه خپل بندګان ګران دي،

زما دې په الله جل جلاله قسم وي چې زما دا ویره نوی چې زما نه بعد به خلک قتل خطابانده دې هم قصاص جاري کوي ما به اوس تا نه سر قلم کړی وی.

بیا یې ورته وویل پاڅه لاړشه او دهغه وفات شوي تن خاندان ته دیت ورکه،

بیا امیر دحکم تعمیل وکړو او دیت یې اداء کړو، الله تعالی دې مونږ ته هم همداسې عادل امیران راکړي•.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

---

• (۱) رواه البیهقی باب فضایل خلفاء الراشدین
(۲) کنز العمال ج۷صف ۲۹۹
(۳) حیاة الصحابة ج۴ صف۱۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۰) برخه:

**د امیرالمؤمنین د مسلمانانو لپاره سینه مبارکه فراخه ساتل:**

(1) د جریر ابن عبد الله رضي الله عنه نه روایت دی چې، عمر رضي الله عنه ابو موسی الاشعري رضي الله عنه د اسلامي فوج سپه سالار ټاکلی وه او دغه صحابي ډیر مشهور محدث او باتور شخص وه.
یو ځل مجاهدینو ډیره زیاته کامیابي حاصله کړې وه او ډیر غنیمتونه یې لاس ته ورغلي وو او ابو موسی الاشعري رضي الله عنه هغه غنیمتونه مجاهدینو تر منځ تقسیم کړل؛ خو یو ځوان ته یې د خپل استحقاق نه د غنیمت مال کم ورکړو؛ نو هغه مجاهد انکار وکړو ویې ویل ماته به خامخا پوره برخه راکوي او دې وخت کې ابو موسی الاشعري رضي الله عنه ته غصه ورغله او هغه مجاهد یې شل (20) درې ووهلو او د سر ویښتان یې هم ورته لنډ کړل هغه مجاهد خفه شو هر څه یې پریښودل او د شکایت لپاره امیر المؤمنین ته راغی.

کله چې راورسیدلو او امیرالمؤمنین ته مخامخ ورغی د خپل سر ویښتان یې جیب کې راوړي وو او د عمر رضي الله عنه په سینه یې ور وویشتل او په ژړا شو چې واخله دا ویښتان ستا امارت کې رابانديې ابو موسی الاشعري بې له کومې ګناه غوڅ کړي او شل درې یې وهلی هم یم عمر رضي الله عنه بې لدې چې د دې مجاهد په بې ادبۍ غصه شي ور پورته شو په مینه یې غیږ کې راونیوه او د انتقام اخستو وعده یې ورسره وکړه.
سمدستی یې خط ولیکلو:

د الله جل جلاله د ثنا صفت او درود ویلو وروسته زما لیک ولوله او که دغه مجاهد سره دې لکه ده چې ذکر وکړو ربښتیا ظلم کړی وی او خبره یې ربښتیا وي نو که تا دا کار د خلکو په وړاندې کړی وي د خلکو په وړاندی ورته کېنه چې ویښتان دې غوڅ کړي او شل درې دې ووهي او که ځانله ځای کې دې کړی وي نو ځانله ځای کې دې درنه انتقام واخلي.
امیرالمؤمنین همدغه مجاهد ته لیک ورکړو او له میلمستیا وروسته یې رخصت کړو.
خو د مجاهد دا تمعه نوه چې ربښتیا به ابو موسی الاشعري رضي الله عنه د حکم تعمیل وکړي ځکه چې هغه د زرګونو مجاهدینو مشر او سپه سالار دی.
نو کله چې مجاهد وررسیدو لیک یې ورکړو او هغه لیک خلاص کړو او له لوستلو وروسته یې وویل زه حاضر یم زه حاضر یم.
امیرالمؤمنین امر دی په سر سترګو بیا یې امر وکړو هلئ زر شئ هماغه دره او قینچي یا بیاتي راوړئ چې ما وربانديې دغه مجاهد وهلی او ویښتان مې پرې غوڅ کړي هغوی ورته راوړل او ابو موسی الاشعري رضي الله عنه ورته کېناستو او ویې ویل راشه خپل انتقام دې واخله کله چې مجاهد د ده دغه عاجزي او د امیرالمؤمنین د حکم په ځای کولو اراده ولیدله ورته یې وویل بس ما وبښلې ما د الله جل جلاله درضاء لپاره معاف کړې ته زمونږ امیر یې او مونږ ستا لښکر یو که تا اول کې معافي غوښتی وای ما به معاف کړی وای.
ابو موسی الاشعري رضي الله عنه دغه مجاهد غیږ کې ونیولو او د ده مهرباني یې وستایله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه وو د عمر رضي الله هغه نرمي چې ویلی یې وه زه له کوچوزیات د اسلام په باره کې نرم یم او په حقیقت کې یې ثابته کړې وه.

(2) حرماوي رضي الله عنه روایت کوي، عمر رضي الله عنه فیروزالدیلمي رضي الله عنه ته لیک واستوو چې ډیر وخت وشو چې بیغمه دشهدو مزې اخلې راشه ته یو بهادر صحابي یې جهاد کې برخه واخله هغه ته چې لیک ورسیدو سمدستي یې وسله را وخسته لاروان شوه چې مدینې منورې ته راورسیدو نو عمر رضي الله عنه ته ورغی او د ننوتلو اجازت یې واخستو کله چې دننه کېدلو یو قریشي ځوان هم ورسره دننه کېدلو کوښښ وکړو دواړه دروازه کې سره ټکر شول فیروز الدیلمي رضي الله عنه ورته څپیړه ورکړه او هغه وینې شو، کله چې فیروزالدیلمي رضي الله دننه شو هغه ځوان هم دننه شو او امیرالمؤمنین رضي الله عنه ته یې شکایت وکړو چې زه فیروز الدیلمي رضي الله عنه ووهلم نو امیرالمؤمنین رضي الله عنه ترې پوښتنه وکړه دغه ځوان دې ولې ووهلو؟

فیروزالدیلمي رضي الله عنه ورته وویل اول خو تا ماپسې لیک رالیږلې وه تا راغوښتی وم بیامې درنه دننه راتلو اجازت اخستی وه او دغه قریشي ځوان ؛خو نه تا را غوښتی وه او نه یې دننه راتلو اجازت اخستی وه او ده کوښښ کولو چې زما نمبر کې دننه راشي او ټکر هم ده راسره وکړ.

نو امیرالمؤمنین رضي الله عنه ورته وویل ته خو ټکر کولو سره زخمي شوی نه یې او دغه ځوان تا زخمي کړو که دغه ځوان بې اجازته راتلو نو ما به ترې پوښتنه کړې وای او زما خو تاسره کوم د راز خبره نوه چې بل څوک پرې خبر نشي بیا یې هغه قریشي ځوان ته وویل چې راشه او خپله بدله ترې واخله کله چې هغه ځوان راوړاندې شو نو عمر رضي الله عنه ورته وویل چې دومره صبر وکړه چې یو حدیث شریف درته بیان کړم.

◆ کله چې اسود عنسي لعنة الله علیه د نبوت دعوه وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیر خپه شو یوه ورځ یې چې د سهار لمونځ اداء کړو مونږ ته یې مخ راوا ړولو چې نن شپه د الله جل جلاله یو غوره او محبوب بنده فیروزالدیلمي رضي الله عنه راولږیدو.

اسود عنسي لعنة الله علیه یې قتل کړو هغه غوره شخص همدا فیروزالدیلمي رضي الله عنه دی.

ایا ته له داسې غوره شخص نه هم خپله بدله اخلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځوان وویل ما دالله جل جلاله لپاره معاف کړو.

فیروزالدیلمي رضي الله عنه وویل یا امیرالمؤمنین ایا ته د قیامت په ورځ د دغه حدیث شریف ګواهي ورکوې؟

امیرالمؤمنین ورته وویل هو.

زه ګواه یم او ما دغه حدیث شریف پخپله اوریدلی دی نو.

فیروزالدیلمي رضي الله عنه هغه قریشي ځوان ته وویل واخله دا زما توره او دا آس او شل زره درهم ما تاته بخشش درکړل.

هغه ځوان وویل ما خو د الله جل جلاله د راضي کولو په خاطر له زړه بښلی یې زه روپۍ نه غواړم.

فیروزالدیلمي رضي الله ورته وویل ما د دې حدیث شریف په خوشحالۍ کې درکړل لتا بل غوره شخص به زه چېرته پیدا کړم بیا هغه ځوان دغه هدیه قبوله کړه.

ګرانو دوستانو یو طرفته که امیرالمؤمنین دعدالت پلي کولو کلک هوډ کړی وو خو بل طرفته یې خپل رعیت ته د بښنی کولو او مینې محبت درس هم ورکړی وه دوی پخپل منځ کې لکه ورونه او یو جسد دا سې وو ، خپله به یې غلطي نه کوله که بل وکړه نو معاف کوله یې.[1]

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۱) برخه:

### د اور سوزولو سزاء چاته ورکولو حکم:

◆ دعبدالله ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې یوه وینځه امیرالمؤمنین ته راغله او شکایت یې وکړو چې زه خپل مالک یا بادار دشک په بنیاد په اور کښولم او زه وسوزیدم چې زما شرمګاه یا عورت هم وسوزیدو ،

عمر رضي الله عنه ورته وویل چې ایا ته هغه لیدلې یې چې تا غلط کار کړی وي؟

وینځې وویل نه،

بیا یې ترینه پوښتنه وکړه چې تا په ځان ګواهي یا تا اقرار او اعتراف کړی؟

---

[1] (1) رواه البیهقی عن جریرابن عبدالله
(2) کنزل العمال ج 4ص 299
حیات حیاة الصحابة باب عدل عمر رضي الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینځې وویل نه.

نو عمر رضي الله عنه ورته وویل لاړه شه مالک ته دې ووایه چې امیرالمؤمنین غوښتی یې.

وینځه لاړه خپل بادار یې راوستو، عمر رضي الله عنه ورته وویل دغه وینځه دې ولې سوزولې؟

هغه وویل چې زما ورباندې شک دی چې بدکاره ده،

عمر رضي الله ورته وویل یعنې تا لیدلې نده چې بد کار کوي؟

هغه وویل هو مانده لیدلې؛ خو وربانديې شکمن یم.

عمر رضي الله ورته وویل نو تاسره بله سزا نه وه چې تا ورکړې وی؟

په اور سوزول خو یوائې د الله جل جلاله صفت دی لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي،

لاَیُعَذّبُ بِاالنّارِ الا رَبّ النّار

په اور بل څوک سوزول نشي کولای یعنې ورته روا نه دي مګر یوائې الله جل جلاله یې کولای شي چې د اور مالک او خالق دی بیا یې ورته وویل که ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی نه وای چې وینځه او غلام دې د بادار نه او ځوی دې د پلار نه انتقام نه اخلي نو ما به ته هماغسې په اور سوزولی وای،

بیا یې دهغې بادار سل دورې ووهلو او خوشې یې کړو او وینځې ته یې وویل چې، زه؛ ته د الله جل جلاله لپاره ازاده یې ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، کوم بادار چې خپل غلام ته په اور سزاء ورکړه هغه ازاد شو، نو له دې نه معلومه شوه چې:

☜ په اور سوزول ناروا دي.

☜ که غلام ته یې سزاء ورکړې وي سل درې به وهل کیږي.

☜ غلام او وینځې ترې ازادیږي.

☜ ځوی د پلار نه انتقام نشي اخستی*.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

* اخرج الطبرانی فی الاوسط وابن عساکر والبیهقی وکنزالعمال ج۷ ص۲۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سيرت (۲۲) برخه.

### د ذميانو اوغلامانو حکم څه دی چې جرم وکړي؟

(۱) مکحول رضي الله عنه فرمايي: چې بيت المقدس فتح شوی ؤ مونږ ټول د اميرالمؤمنين په شمول هلته ؤ، يوه ورځ عباده ابن صامت رضي الله عنه يو نبطي غلام ته وويل: راشه دغه زما آس لږ ونيسه لږه شيبه وروسته يې درنه اخلم.

هغه نبطي غلام انکار وکړ؛ نو عباده ابن صامت رضي الله عنه ته غوصه ورغله او هغه يې ووهه او سر يې مات شو هغه غلام اميرالمؤمنين ته ورغی او شکايت يې وکړ، اميرالمؤمنين عباده ابن صامت رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې دغه غلام دې ولې وهلی دی؟

عباده ابن صامت رضي الله عنه ورته وويل: زما يو مشکل دی چې زه ډير ژر غوصه کيږم، دې غلام زما خبره ونه منله او ما وواهه.

عمر رضي الله عنه ورته وويل: اوس نو ورته کښينه چې بدله درنه واخلي،

دې وخت کې زيد ابن ثابت رضي الله عنه دغه خبره واوريدله او عمر رضي الله عنه ته يې وويل: ولې ته اوس د بادار نه د غلام بدله اخلې؟ او تا ته حديث شريف معلوم دی چې بادار نه د غلام او پلار نه د زوی بدله نه شي آخستی، نو عمر رضي الله عنه ورته وويل: صحيح ده عباده ابن صامت رضي الله عنه دې ديت ورکړي بيا هغه ديت ورکړ او هغه يې راضي کړ.

(۲) د سويد ابن غفله رضي الله عنه نه روايت چې کله شام فتح شو، اميرالمؤمنين رضي الله عنه هم هلته تشريف راوړی و، نو يو يهودي ورته راغی او شکايت يې وکړ چې زه ستا د پوځ يو مجاهد ډير زيات ووهلم دا وګوره سر مې مات او ټول بدن مې تک شين دی.

نو عمر رضي الله عنه ته ډيره غوصه ورغله چې دا څوک دی چې ذمي يهودي يې وهلی دی؟ نو صهيب رضي الله عنه ته يې امر وکړ چې پاڅه او هغه نفر ماته راوله، کله چې صهيب رضي الله عنه ورغی ګوري چې هغه نفر مشهور جليل القدر صحابي عوف ابن مالک الاشجعي رضي الله عنه دی.

صهيب رضي الله عنه ورته وويل: اميرالمؤمنين رضي الله عنه درته ډير په غوصه دی او ته يې غوښتی يې ته دا سې وکړه چې اول معاذ ابن جبل رضي الله عنه ته ورشه له هغه غير بل څوک اميرالمؤمنين رضي الله سره خبره نه شي کولای او ډاريږي، ته هغه ته پوره حقيقت بيان کړه هغه به اميرالمؤمنين رضي الله ته ووايي چې تا ته دومره فرصت درکړي چې ته خپله خبره وکړې.

هغه همدا سې وکړل او مسجد ته راغی عمر رضي الله عنه په جمع ولاړ ؤ چې کله فارغ شو غږ يې وکړ چې صهيب چيرې دی؟ هغه نفر يې راوست، صهيب رضي الله عنه ورته وويل: زه دغه يم، هو راوستی مې دی، دغه وخت کې معاذ ابن جبل رضي الله عنه پورته شو او ويې ويل:

يا اميرالمؤمنين رضي الله زما يوه غوښتنه ده، عمر رضي الله عنه ورته وويل: وايه څه وايې؟

معاذ ابن جبل رضي الله عنه ورته وويل: دغه سړی عوف ابن مالک الاشجعي دی ته ور باندې جلدي يا تيزي مه کوه هغه پريږده چې تا ته يو ځل پوره حقيقت بيان کړي بيا ته چې هره فيصله کوې ټول ته په سر سترګو منظوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر رضي الله عنه وویل: سمه ده رادې شي، عوف ابن مالک الاشجعي رضي الله عنه خپله خبره دا سې شروع کړه.

ما دغه یهودي ولیده، چې یوه مسلمانه ښځه یې په خره سپره کړې وه هغې چغې وهلې دغه یهودي کوښښ کولو، چې د خره نه یې راوغورځوي؛ خو هغې ځان ټینګ کړی ؤ، بیا دغه یهودي دیکه ورکړه او هغه ښځه لاندې راپریوتله او تر څو چې را پورته کیدله نو دغه یهودي ور منډه کړه او د پاسه ور باندې څملاست (پریوتی) چې بدنامي ور واړوي دغه وخت کې زه ور ورسیدلم او دغسې عمل مې ور سره وکړ چې ته یې ګورې.

عمر رضي الله عنه ورته وویل: چې ته ولاړ شه او هغه ښځه راوله چې ستا رښتیا او درواغ معلوم شي کنه نو سزاء ته ځان تیار کړه، عوف ابن مالک الاشجي رضي الله عنه د هغې ښځې کور ته ورغی ورته یې وویل: امیرالمؤمنین رضي الله له تا نه حقیقت اوریدل غواړي کنه نو ماته به سزاء را کوي، د هغې ښځې پلار او ورور عوف ابن مالک الاشجعي رضي الله عنه ته وویل: تا مونږ په شرمو وشرمولو ستا څه اراده ده چې دا هلته ولاړه شي؟ او نور هم وشرمیږو چې څوک خبر نه وي هغه هم خبر شي؟

هغې ښځې ورته وویل: زه به خامخا ورځم او عوف ابن مالک الاشجعي رضي الله عنه چې په ما غیرت کړی دی زه به یې بچ کوم.

بیا یې پلار او ورور ورته وویل: تاته ضرورت نشته مونږ به دواړه ورشو او ستا حقیقت به ورته بیان کړو، هغه دواړه راغلل او بلکل هماغسې بیان یې وکړ څنګه چې عوف ابن مالک الاشجعي رضي الله عنه کړی ؤ.

کله چې عمر رضي الله عنه ته حقیقت معلوم شو امر یې وکړ چې دغه یهودي اعدام کړي او صحابه کرامو هغه یهودي اعدام کړ.

بیا یې وویل: أی مسلمانانو ورونو تاسو واوری د چا د ذمیتوب نه مطلب دا نه دی چې دوئ به داسې قسم حرکتونه کوي او تاسې به یې معاف کوئ.

خبردار هر هغه څوک چې د اسلام خاورې ته داخل شي او یا له مخکې پکې اوسیږي که هغه په خپله خوښه راغلي وي یا چا راغوښتي وي هغه اشغالګر وي یا مجاهد هغوئ که وسلې سره راغلي وي یا بې وسلې چې ستاسې ننګ، ناموس، خاورې، مال او ځان ته ترینه خطر وي او هغوئ دغسې حرکتونه کوي هغوئ ته امن ورکوونکی هم او دوئ هم دغسې ووژنئ لکه څنګه چې ما دغه یهودي ووژلو.

سوید ابن غفله رضي الله عنه فرمایي: دغه یهودي اولنی سړی ؤ چې ما ولید، چې اسلام کې اعدام شو له دې وروسته بیا چا بلل شوي یا نابللي اشغالګر یا ذمیان نه دي معاف کړي او په هر غلط کار باندې یې دوچنده سزاء ورکړې ده•.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

---

• اخرج ابوعبید و البیهقي و ابن عساکر
وکذالک فی الکنز/ج:۲
و اخرج الطبراني عن عوف ابن مالک رضي الله عنه مختصرا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سيرت (۲۳) برخه.

ذميانو او غير مسلم چې ستا قانون نه مني او ستا حيا، ننگ، ناموس او خاورې ته خطر وي څه حکم دی؟

(۱) عبد الملک بن يعلي الليثي رضي الله عنه فرمائي: چې بکر بن شداخ الليثي رضي الله عنه د بلوغ نه وړاندې د رسول الله ﷺ خدمتګار ؤ او د رسول الله ﷺ کور ته تلو راتلو، خو چې کله بالغ شو نو رسول الله ﷺ ته راغی ورته ئې وويل: زه اوس بالغ شوم اوس ستاسو کور ته نه ځم نو رسول الله ﷺ چې د ده ايمانداري وليدله نو دعاء ئې ورته وکړه چې الله ﷻ دې ستا د قول او خبرې تصديق وکړي.

کله چې شام فتح شو، نو هلته يو يهودي مړ مونده شوی ؤ او عمر (رضي الله عنه) ډير خپه ؤ ځکه چې داسې نامعلومه مرګ هغه ته قبول نه ؤ، نو مسجد کې ئې اعلان وکړ چې ستاسې دې په الله ﷻ قسم وي چې چا ته د دغه يهودي قاتل معلوم وي ماته دې ونبائي.

نو بکر بن شداخ الليثي رضي الله عنه پورته شو او وئې ويل: چې دغه يهودي ما وژلی دی، نو کله چې اميرالمؤمنين رضي الله د هغه خبر واورېد، نو له ډيره تعجبه ئې الله أکبر ووايه ځکه چې اميرالمؤمنين رضي الله عنه ته د هغه خدمت معلوم ؤ چې د بلوغ مخکې يې د رسول الله ﷺ کړي و.

نو عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: ژر ژر صفائي پيش کړه کنه نو خير دې نشته.

بکر بن شداخ الليثي رضي الله ورته وويل: چې زما يو دوست تاسو جهاد ته ليږلی دی هغه خپل ټول خاندان ماته سپارلی دی زه به وخت په وخت ورتلم او پوښتنه به مې کوله، يوه ورځ چې ورغلم نو د نارينه اواز مې واوريد، چې اشعار وائي چې د هغې ترجمة داسې ده.

آی اشعثه ته مسلمانانو د جهاد په نوم دوکه کړی ئې دا دی زه ستا کور ودانې سره پروت يم ټوله شپه مې د هغې په سينه تيره کړه تيونه مې ترې وچوشل ټوله شپه مې ارخ په ارخ واړوله را واړوله نن ستا د کور ودانې ګلونه ما ورژول ستا پالنګ ماته خالي دی، نن مې ټوله شپه ستا په هغه تخت تيره کړه چې ته ورته ناموس وائې.

بکر بن شداخ الليثي رضي الله عنه وويل: نور مې طاقت ونه شو او ورپسې دننه ورغلم سر مې ترې قلم کړ او ښه مې زړه وربانده يخ کړ، اوس ستا خوښه چې کوم امر کوې ماته قبول دی نو اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) ورته وويل: که بل کوم نفر وي ما به ضرور ترينه ګواهان غوښتي وای، خو ستا خبره تصديقوم ځکه چې ما ته هغه دعاء ياده ده چې رسول الله ﷺ درته کړې ده.

بيا اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) ورته وويل: نر کار دې کړی دی او يو ځل ئې بيا اعلان وکړ چې آی صحابه کرامو هر هغه خلک چې ستاسې ننګ، ناموس، خاورې، ځان او اولاد او اسلام ته ترې خطره وي نو که هغه په هر نوم ستاسې خاورې ته داخل شوی وي وژل ئې درباندې فرض دې•.

دا وه د عمر (رضي الله عنه) فتوی چې د اوس وخت سره بلکل برابره ده.

❁❁❁❁❁

• رواه الطبراني في کتابه والکنز في ۳۰۲ ۴:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲۴) برخه

### د ذميانو حقوق او جنګي بنديانو سره غدر:

(۱) اميرالمؤمنين عمر (رضي الله عنه) يوې غزاء ته مجاهدين ليږلي وو، بيا ورته خبر راورسيد، چې دا خلک عجميان دي او سخت باتور او جګړه مار خلک دي، خو ستاسې مجاهدينو ورته وعده ورکړې ده چې تسليم شي، تاسو ته امن دی يا تاسو سره خبره کوو، او که هغوئ غره ته ختلي او محفوظ وي خو چې کله راکښته شي او ورته راشي نو قتل يې کړئ، نو اميرالمؤمنين عمر (رضي الله عنه) ورته ليک واستو، چې زما دې په الله ﷻ قسم وي چې تاسو کې هر چا دا ناوړه عمل وکړ سر به ترينه پرې کوم چې تاسو يو ځل خلک تسليم کړئ بيا ورسره دوکه کوئ، تاسو ورته د امن وعده ورکړئ بيا وعده خلافي کوی، او وژنئ ئې او دا د اسلام د مبارک دين خلاف کار دی تاسو ئې بايد تر يو وخت وساتی. چی بلکل ئې د اسلام راوړلو او سمی لارې ته د راتلو اميد نه وي نو بيا سزاء ورکړئ.

(۲) د انس ابن مالک (رضي الله عنه) نه روايت دی: چې موږ خراسان تستر ښار محاصره کړ هغې کې يوه مظبوطه قلعه وه هغې کې هرمزان بادشاه هم ؤ ما هغه محاصره ماته کړه او هرمزان مې ژوندی ونيوو او اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) ته مې راوستولو، کله چې اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) ته مخامخ شو اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) ترې پوښتنې شروع کړې.

هرمزان ورته وويل: د مړو په شان خبرې وکړم که د ژوندیو؟

هرمزان د دوه تکړه صحابه کرامو براء ابن مالک او مجزاة ابن ثور رضي الله عنهم قاتل ؤ، نو عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: تا باندې ويره نشته يعنې ډاريګه مه خبرې کوه.

هرمزان ورته وويل: کله چې تاسو د بتانو عبادت کاوه نو مونږ در باندې غالب ؤ او تاسو ته دوه چانسونه وو يا غلامي او يا مرګ.

خو کله چې تاسو ته نبي ﷺ راغی نو زمونږ دواړه لاسونه مات شول مونږ عجميان به اوس هميشه مغلوب او تاسو به د دين په برکت غالب ياست.

نو انس ابن مالک (رضي الله عنه) فرمائي: چې اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) ماته وويل: چې هرمزان سره څه عمل وکړو؟ نو ورته ومې ويل: شاته ده زبردست پوځ پريښې هغوئ بيخي زيات قوي دي که ته هرمزان ووژنئ، نو د هغوئ مورال به کښته شي ګډوډ به پکې راشي او مونږ به ور باندې غالب شو.

نو اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) ووېل: زما هم همدا رايه ده ځکه چې هرمزان د صحابوو قاتل دی بايد ووژل شي.

انس ابن مالک (رضي الله عنه) فرمايي: چې کله زما پوره يقين راغی چې، اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) اوس هرمزان نه پريږدي ضرور يې وژني نو ما ورته وويل: چې اميرالمؤمنينه رضي الله عنه اوس خو ته هرمزان نه شې وژلای.

اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) په تعجب شو او ويې ويل ولې؟ انس ابن مالک (رضي الله عنه) فرمائي: چې ما ورته وويل: کله چې هرمزان درته وويل د مړو خبرې وکړم که د ژوندیو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې که ته ما وژنې د همدې موضوع سره برابرې او مناسبې خبرې کوم که ته مانه وژنې نو د خپل ژوند سره مناسبې خبرې کوم، نو تا ورته وویل: چې تا باندې ډار نشته یعنې مه ویرېږه دا خبره دا سې شوه چې تا امن ورکړ، اوس چې یې ته ووژنې وعده خلاف شوې، امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) راته وویل: ایا هرمزان تا ته رشوت درکړی دی، چې ته یې د بچ کیدلو کوښښ کوې؟

انس ابن مالک (رضي الله عنه) فرمایي: ما ورته وویل: نه یې رشوت راکړی او نه زه دا سې اراده لرم، زه غواړم ته وعده خلافه نه شې.

نو امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) راته وویل: انسه (رضي الله عنه) ایا ته په خپله خبره کې صادق یې؟ که ما دا سې ویلي وي یو بل گواه پیش کړه.

انس ابن مالک (رضي الله عنه) فرمائي: زه بهر راووتلم نو هلته مې زبیربن عوام (رضي الله عنه) وموندو هغه را سره ولاړ هغه هم دا خبره آوریدلې وې، نو مونږ دواړو گواهي تیره کړه چې تا دغه خبره کړې ده نو، امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) هرمزان ته وویل: ځه ته په امن شوې ته اوس په خپله خوښه ځان ته لاره غوره کړه کله چې هرمزان پوه شو چې مسلمانان په هغه وعده هم وفا کوي چې غیر ارادي ترې صادر شوي وي نو پوه شو چې دغه دین حق دی نو مسلمان شو.

چې د ده مسلمان کیدل د ډیرو نورو د اسلام راوړلو سبب شو.

د مشرانو اکثره اعمال مونږ ته نصیحت دی که مونږ د هغوئ په لاره لاړ شو همدا سې کامیابئ به مو نصیب شي

(۳) عبد الله بن ابي حدرد اسلمي (رضي الله عنه) فرمایي: چې مونږ د عمر (رضي الله عنه) سره د جابیة ښار ته ولاړو، هلته مو وکتل چې یو سپین ږیری یهودي د مسجد دروازه کې سوال کوي نو عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: ولې سوال کوې؟

هغه عمر (رضي الله عنه) نه پیژندلو هغه وویل: مونږ امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ته جزیه منلې، خو اوس زه کمزوره شوی یم مزدوري نه شم کولای نو یو خوا راباندې جزیه او بل خوا د کور ساتنه ده او زه بل کوم څوک نه لرم چې مزدوري وکړي نو له مجبورئ سوال کوم.

نو عمر (رضي الله عنه) یې په اوږه لاس کیښود او ورته یې وویل: ته نور سوال مه کوه چې ته قوت او طاقت کې وې مونږ ستا جزیه بیت المال ته سپارلې ده چې د مسلمانانو ضرورتونه مو ترې پوره کول اوس ته ضعیف یې تا ته به د بیت المال نه نفقه درکول کیږي او جزیه دې هم معاف شوه.

گرانو دوستانو افغانستان کې یوازې سیکهان او هندوان چې له پخوا دلته اوسیږي او ملک ته ترې خطره نشته په دې حکم کې داخل دي نور کافران په هیڅ صورت د ذمیانو حکم کې نه شي راتلای.

راتلونکي موضوع د ذمیانو مال خوړل او نور ښکلي معلوماتو کې راسره اوسئ[•]،

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

---

• اخرج ابن عساکر و الواقدي مثل ذلک
کنزالعمال ج ۳ صف ۳۰۱،۳۰۲
و اخرج ابوعبید و مالک فی کتابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۵) برخه

### د اولاد رسول ﷺ سره نیکي کول

### د ذمي د مال خوړلو حکم

(۱) یزید ابن مالک رضي الله عنه فرمايي: چې مونږ د جابیه ښار فتح کړ نو مجاهدین سخت لوږې اخستي وو، یو یهودي راغی امیرالمؤمنین رضي الله عنه ته چې هلته موجود ؤ شکایت وکړ، چې ستا مجاهدینو زما د انګورو په باغ چاپه غورځولې (وهلې) ده ټول یې خوړلي دي.

نو عمر رضي الله عنه په خپله ښار ته ووت، ګوري چې یو صحابي رضي الله عنه خپل ډال کې د انګورو وږې (وانښکي) اویزان کړي او روان دی.

عمر رضي الله عنه هغه ته وويل: یعنې تا هم انګور را شکولي دي؟

هغه مجاهد ورته وويل: هو ! ما هم خپله برخه را شکولي دي خو یا امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) مونږ نور د لوږې مرګ ته نژدې وو !

نو عمر رضي الله عنه ورته څه ونه ويل بیرته راغې، هغه یهودي ته یې وويل: تا به دغه انګور خرڅولو ته ساتلي وه؟

هغه ورته وويل: هو ! همدا مې د خپلو ضرورتونو پوره کولو ته خرڅول.

نو امیرالمؤمنین رضي الله عنه ورته وويل: ته د خپلې خوښې قیمت ووايه هغه یهودي ورته قیمت ووايه او امیرالمؤمنین رضي الله عنه پوره قیمت ورکړ، دا ؤ د هغوئ تقوی او پرهیزګاري.

← یو روایت کې د عامر بن ربیعة رضي الله عنه نه روایت دی: چې عمر رضي الله عنه یو ځای کې یو وچ لرګی د مځکې څخه اوچت کړ او ویې ويل: کاش چې زه دغه خشاک وای چې هیڅ پوښتنه رانه نه کیدای.

← د ابي نعیم رضي الله عنه څخه روایت دی: چې عمر رضي الله عنه وفرمایل: که چیرې د آسمان څخه یو اواز کوونکی اواز وکړي چې تاسي ټول به جنت ته داخلیږئ غیر له یو تن نه زما ویره ده چې هغه زه نه وم.

او که چیرې د آسمان څخه یو اواز کوونکی اواز وکړي تاسې ټول به جهنم ته ځئ غیر له یو تن نه نو زما امید دی چې هغه به زه وم یعنې هم ویره پکار ده چې عبادت په احسنه طریقه وشي او هم د الله ﷻ د رحم او کرم امید پکار دی.

← حلیة الاولیاء یو روایت ذکر کړی دی: چې عمر رضي الله عنه ته د یمن څخه یمني څادرونه راغلي وو او چاته یې د تقسیم امر وکړ، هغه ټول تقسیم کړل چې کله خلاص شول نو ګوري چې حسنین رضي الله عنهم د خلکو په اوږو پېښې راړولې او امیرالمؤمنین رضي الله عنه مخې ته راغلل هغوئ څه ونه ويل خو امیرالمؤمنین رضي الله عنه ډیر زیات خپه شو، صحابه کرامو (رضي الله عنهم) پوښتنه وکړه چې ته ولې خپه او ژړغونی ښکارې؟

امیرالمؤمنین رضي الله عنه ورته وويل: تاسو د حسن (رضي الله عنه) او حسین (رضي الله عنه) په باره کې د الله ﷻ نه ویریږۍ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغــوئ وویــل: چــې دا څادرونــه دوئ بانــدې غــټ دي او بــي بــي فــاطمې (رضــي الله عنهــا ) بانــدې واړه دي نــو ځکــه مــو ورنــه کــړل ! نــو امیرالمــؤمنین رضــي الله عنــه سمدســتي امــر وکــړ، چــې د دوئ لــه پــاره دې څادرونــه د یمن څخه را وغوښتل شي تر څو چې دوئ ته نه وي رسیدلي زه ارام نه شم کولای.

بیــا هغــوئ څــوک یمــن تــه ولیــږل او څادرونــه یــې ورتــه راوړل چــې کلــه هغــوئ څادرونــه واغوســتل نــو عمــر رضي الله عنه هم خوشحاله شو.

داؤ د امیرالمؤمنین رضي الله عنه په خپل رعیت مهرباني او له الله ﷻ ویره•،

داسې نورو د عبرت واقعاتو کې راسره اوسئ.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۲۶) برخه

**قربان له داسې تقوی نه شم**

(۱) نــافع ابــن حــارث (رضــي الله عنــه ) فرمــایې: چــې عمــر (رضــي الله عنــه ) مکــې معظمــې تــه تشــریف راوړ، د جمعــې ورځ وه او د ارالنــدوه مقــام تــه لاړ، چــې لــه دې ځایــه حــرم شــریف نــژدې دی لــږه دمــه بــه وکــړم او طواف ته به ولاړ شم او دلته یې خپل څادر مبارک ومینځه او یو لرګي باندې یې ځوړند کړ.

دې وخــت کــې یــوه کــوتره راغلــه او څــادر بانــدې کښیناســتله نــو عمــر (رضــي الله عنــه ) وډار شــو چــې هســې نــه ګنــدګي ور بانــدې ونــه کــړي، نــو لــه هغــه ځایــه یــې وشــړله هغــه پــه بــل ځــای کښیناســتله هلتــه مــار و او هغــه یې وچیچله او مړه شوه.

نو عمر (رضي الله عنه ) ډیر زیات خپه شو چې دا څه وشول؟

نــو عمــر (رضــي الله عنــه ) چــې د جمعــې لمــونځ وکــړ عثمــان (رضــي الله عنــه ) ورتــه راغــی هغــه ترینــه د پریشانئ سبب وپوښته !

عمــر (رضــي الله عنــه ) ورتــه د کــوترې خبــره وکــړه چــې کــوتره پــه امــن ځــای کــې ناســته وه او مــا پــه دې شــک چې زما په څادر ګندګي ونه کړي، پاځوله اوس تاسو وواېې چې زما کفاره څه شی ده؟

نــافع ابــن عبــد الحارث (رضــي الله عنــه ) فرمــایې: چــې عثمــان (رضــي الله عنــه ) ماتــه وویــل: چــې تــه څــه وایې؟

نــو مــا ورتــه وویــل: چــې دوه درمیانــه پســونه دې ورکــړي، نــو عثمــان (رضــي الله عنــه ) هــم زمــا خبــره خوښــه کــړه او عمــر (رضــي الله عنــه ) بیــا دوه پســونه فدیــه ورکــړه، یــوه ســهوه بانــدې چــې ګنــاه هــم نــه وه عمــر (رضــي الله عنــه ) دومــره لــه الله ﷻ ویریــده، اوس راشــه د دې زمــانې بادشــاهانو او واکــدارانو تــه چــې پــه ســلګونه دیندار مسلمانان وژني او بیا فخر ور باندې کوي.

---

• صفحه ۹۲، وابی صاعد الله الکایی فی کتابه
وکنزالعمال ج۲ صف ۲۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) عمر (رضي الله عنه) په خپله د خلافت دوران کې هم تجارت کولو او خپله مصارف يې له همدې ګټې پوره کول، يو وار يې شام ته خپل ټول مال تجارت له پاره وليږل، خو خپله بې خرڅه شو او عبدالرحمن ابن عوف (رضي الله عنه) ته يې جواب وليږه چې څلور زره درهم قرض ورکړي.
عبدالرحمن ابن عوف (رضي الله عنه) ورته بيرته جواب راوليږه، چې بيت المال نه قرض واخله چې کله ستا د تجارت مال راغی بيرته يې بيت المال ته داخل کړه دغه خبره په عمر (رضي الله عنه) ډيره سخته ولګيدله او خپه شو بيا عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه فرمايي: چې ما سره په لاره کې مخامخ شو او ډير راته په غوصه ؤ او ما ته يې وويل: بيت المال خو ماته هم معلوم ؤ، خو ما نه غوښتل بيت المال نه قرض واخلم که زه بيت المال نه قرض واخلم او مړ شم خلک به وايي معاف يې کړئ، اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) دی او د قيامت په ورځ به زه الله ﷻ ته جواب ورکوم.
ما ستا غوندې حريص او بخيل سړي نه څکه قرض غوښته چې که زه ناڅاپي مړ شم نو ته به يې راته معاف نه کړې او زما ميراث نه به يې واخلې يا به يې زما اولاد درکړي، نو زما غاړه به د قيامت په ورځ خلاصه وي.
وګورئ دومره پاک نفس والا چې قرض هم له بيت المال څخه نه اخلي !
او د بيت المال خوړل خو لرې خبره ده،
يو صحابي (رضي الله عنه) فرمايي: چې اميرالمؤمنين بازار کې روان و، نو زما وربانديې پام نه ؤ هغه خپله قمچينيي ته زما طرف ته اشاره وکړه او قمچينه زما د جامو يوه غاړه باندې ولګيدله، نو زما ور پام شو، هغه راته وويل: دغه کچره او چته کړه بازار کې ګندګي مه جوړوئ،
بازار صاف ستره ساتئ او ښار وال يعني د ښار مسؤل ته ووايه چې بازار صاف وساتئ.
بيا فرمايي: چې پوره يو کال بعد يې زه بازار کې وليدم او له لاسه يې ونيولم خپل ځای ته يې بوتلم او بيا يې راته وويل: ايا ته په دې کال کې د حج اراده لرې؟ نو ما ورته وويل: هو حج ته ځم ان شاءالله، نو بيا يې راته وويل: دغه شپږ زره درهم واخله او خپل حج کې يې ولګوه، نو ما ورته وويل: ما سره خرڅ شته ما ته يې مه راکوه.
نو اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) ويل: نه دغه ما تاته څکه درکړل چې يو کال مخکې ستا جامې په قمچينه باندې لګيدلې وې او ستا پام نه ؤ ته به ډار شوی وې،
نو صحابي (رضي الله عنه) فرمايي: چې ما ورته وويل: زما په ياد نه دي نو عمر (رضي الله عنه) راته وويل: ستا به په ياد نه وي خو زما نه دي هير شوي. بيا يې روپئ راکړلې*.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

* حياة الصحابة ج۱ صفحه ۱۹۹
کماذکرابن عساکر عن ابراهيم نخعي رضي الله عنه ج۴ صفحه ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۲۷) برخه

### واک غوښتونکو ته زبردست زیری

تر اخیره یې ولولئ.

بادشاه، وزیر، د ستري او وړې جرګې ولایتي او ولسوالۍ شورى والي، قاضي، حاکم، قوماندان، جنرال، ښاروال او ټولو هغوئ ته چې یا یې ځان په وچ زور یا واسطه یا رشوت مقرر کړی وي یا بل چا په دې خلکو را نازل کړی وي، زیری.

ابو وائل شقیق بن سلمة (رضي الله عنه) څخه روایت دی: چې عمر (رضي الله عنه) د خراسان هوازن له پاره بشر ابن عاصم (رضي الله عنه) حاکم وټاکه، چې د هغوئ مشري وکړي او د هغوئ نه زکاة را جمع او د غریبانو مشکلات پرې حل کړي.

خو بشر بن عاصم رضي الله عنه کور کې ناست ؤ ژړل یې، عمر (رضي الله عنه) خبر شو چې هغه خو نه دی تللی او کور کې دی، نو عمر (رضي الله عنه) ورپسې راغی ورته یې وویل:

کوم ضروري کار هلته د تلو نه منع کړی ئې؟ ایا زما اطاعت په تا واجب نه دی؟ ایا ته ما هوازن ته د تلو امر نه دی کړی؟

بشر بن عاصم (رضي الله عنه) ورته وویل: بیشکه چې ستا امر ماته رسیدلی او تا ما ته یوه لویه عهده سپارلې، خو عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: وایه څه وایې؟

بشر بن عاصم (رضي الله عنه) ورته وویل: ما له رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې څوک د چا مشر او هغوئ د هغه ماتحت شي او هغه مشر ور سره عدالت ونه کړي، مال یې وخوري، یا یې بیځایه ولګوي، یا هغوئ ته اسانتیاوې برابرې نه کړي، یا یې حقوق تلف کړي، یا ظلم او غصب ترې وشي لږ وي که ډیر نو، د قیامت په ورځ به پل صراط باندې ودرول شي چې له الماس نری دی، او پوښتنې به ترې وشي که لږ خیانت هم ترې شوی وي نو د صِراط پُل نه به ئې وغورځوي چې (۷۰) کاله به کښته روان وي او د جهنم بیخ ته به ورسیږي او هماغه ځای کې به وي، بیا په ژړا شین شو نورې خبرې یې له خولې نه راوتلې.

عمر (رضي الله عنه) په ژړا شو د بشر بن عاصم (رضي الله عنه) له کوره راووت، لاره کې ابوذر غفاري (رضي الله عنه) ورته مخې ته راغی هغه ترې پوښتنه وکړه، امیرالمؤمنینه خیر خو دی؟ ولې غمجن یې؟

عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: د بشر بن عاصم (رضي الله عنه) نه مې یو حدیث شریف واوریده، بیا یې حدیث شریف ورته بیان کړ.

ابوذر غفاري (رضي الله عنه) ورته وویل: ولې دغه حدیث شریف تا نه دی اوریدلی؟

عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: نه.

ابوذر غفاري رضي الله عنه ورته وفرمایل: ما هم له رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي، چې څوک په یوه عهده مقرر شي که هغه لویه وي یا وړه او هغه خیانت پکې وکړي او ناوړه ګټه ترې اوچته کړي، نو د قیامت په ورځ به یې پُل صِراط نه ملائکې ښکته وغورځوي او (۷۰) کاله به ښکته روان وي بیا به د جهنم بیخ ته چې له ډیر ګرموالي تک تور دی ورسیږي او هماغه به یې ځای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو أي أمیرالمؤمنینه رضي الله عنه، اوس ته ووایه چې د چا مخ په خاوره سپیره نه وي او بدبخته نه وي نو د خلکو مشري به وکړي؟

انس ابن مالک (رضي الله عنه) رسول الله ﷺ په یو ځای کې امیر مقرر کړ، چې بیرته راستون شو نو رسول الله ﷺ ترینه پوښتنه وکړه: چې امارت دې څنګه ؤ؟ هغه ورته وویل: یا رسول الله ﷺ قسم په رب العالمین چې بیا به د دوه تنو مشري هم ونه کړم.

بیا به چې چا ورته وویل: لمونځ ته مخکې شه نو لمانځه ته به هم نه مخکې کیده ویرده به، چې د دغه حدیث شریف مصداق نه شو.

عبدالرحمن ابن سعید بن یربوع (رضي الله عنه) فرمایلي: چې عمر (رضي الله عنه) ابان بن سعید رضي الله عنه یو ځای کې امیر یا والي مقرر کړی ؤ هغه ولایت پریښود او مدینې منورې ته راغی، عمر (رضي الله عنه) ورته زیات په غصه شو چې ولې دې ولایت پریښود او د خلیفه بې اجازې ترې راغلې؟

ابان بن سعید (رضي الله عنه) ورته وویل: امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) واوره زما دې په الله ﷻ قسم وي د رسول الله ﷺ نه بعد به زه یوه عهده هم نه اخلم، ځکه چې دا حدیث ما ته معلوم دی ما ته ابوبکر (رضي الله عنه) هم پیش کش کړی ؤ ما نه دی منلی.

عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: زه به تا په زبردستئ ولیږم ځکه چې دغه علاقه تا فتحه کړې ده خلک یې ستا په لاس مسلمان شوي دي، ته د هغوئ په ژبه دود او دستور پوهیږې زه به له تا غوره دیندار او له الله جل جلاله ویریدونکی چیرې پیدا کړم؟

خو ابان بن سعید (رضي الله عنه) هماغسې انکار کولو او ویل یې: زه دوزخ نه ویریږم ما مه مجبوروه.

ما ته ابوبکر (رضي الله عنه) هم ویلي وو، ما انکار کړی ؤ.

بیا صحابه کرامو رضي الله عنه، عمر (رضي الله عنه) ته وویل، چې ابوبکر (رضي الله عنه) مجبور نه کړ، ته یې هم مه مجبوروه، او هلته هغه ځای سره بلد بل صحابي علاء حضرمي (رضي الله عنه) یې ولیږلو هغه هلته خپلوان هم لرل او خلکو یې ډیر عزت کولو او د هغوئ مسلمانیدو کې د ده لویه ونډه وه، نو عمر (رضي الله عنه) علاء حضرمي (رضي الله عنه) ته وویل: چې ته ولاړ شه هغه نه راضي کیږي او ویل یې: ما ته د خلکو مشروالي کې دوزخ ښکاري، که زه لږ غفلت وکړم هلاک به شم دوزخي به شم.

خو نورو صحابه کرامو ورته وویل: ته اطاعت وکړه او هر کار کې امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) سره مشوره کوه امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) به دعاء درته کوي. الله ﷻ به دې دوزخ نه بچ کړي.

بیا علاء حضرمي (رضي الله عنه) راضي شو او هلته د والي په صفت ولاړ•.

ګرانو دوستانو همدا موضوع جاري ده راسره اوسئ!

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

• الهیثمي جلد ۵ ص۲۰۲، کنزالعمال جلد ۳ ص ۱۳۳، کذالک في الاصابة جلد ۴ ص۲۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۲۸) برخه:

**قاضي صاحبانو ته،**

(۱) ابو هریره (رضي الله عنه) فرمايي: چې اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) راوغوښتم او راته ويې ويل: يو ځای ته دې د والي او قاضي په صفت ليږم، نو ما انکار وکړ.

اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) راته وويل: ته انکار کوې او له تا نه مخکې يو تن پخپله د عهدې خواهش کړی ؤ.

نو ما ورته وويل: چې هغه څوک دی؟

اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) راته وويل: چې يوسف بن يعقوب عليهم السلام!

ابوهريره (رضي الله عنه) فرمايي: ما ورته وويل: هغه خو نبي وو، او د نبيانو اولاد ؤ.

او زه د اميه زوی يم او زه له درې شيانو او دوه شيانو ويريږم:

نو اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) راته وويل: دا سې ووايه چې له پنځه شيانو ويريږم،

نو ما ورته وويل: درې تا پورې اړه لري دوه ما پورې.

❶ زه ويريږم چې بې علمه خبرې به وکړم.

❷ بې علمه فيصلې به را نه وشي دوزخي به شم.

❸ ته چې زما غلطي ويني په دې ډډو به راته ښې مظبوطې دورې راکړې.

❹ زما مال به په دې خاطر بيت المال کې جمع کړې چې په ما به د غل شک وي.

❺ او زما عزت به خاورو سره خاورې شي.

عبدالله ابن موهب (رضي الله عنه) نه روايت دی: چې عثمان (رضي الله عنه) ابن عمر (رضي الله عنه) ته وويل: چې زه تا قاضي مقرر ووم، ولاړ شه او د خلکو تر منځ فيصلې کوه، هغه انکار وکړ، چې زه د قضاء لائق نه يم،

عثمان (رضي الله عنه) ورته وويل: چې ستا پلار عمر (رضي الله عنه) خو فيصلې کولې نو ته يې ولې نه کوې؟

نو عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ورته وويل: اګر که هغه يې اهل ؤ خو هغه هم ويريدو، چې ناحقه فيصله و نه کړي.

بيا عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) ورته و فرمائل: ما له رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې قاضيان درې قسمه دي، دوه قسمه به جهنم کې وي يو قسم به جنت کې وي.

**اول**: هغه قاضي چې بې له تفتيشه، بې له علمه، بې له حق ته رسيدلو غيرحق فيصله وکړي هغه به جهنم کې وي.

**دويم**: هغه قاضي چې څه يې زړه غوښتل هماغسې فيصلې يې کولې او حق او ناحق يې نه کتل واسطه، رشوت، ډار او ويره باندې يې فيصلې کولې جهنم ته ځي.

**دريم:** هغه قاضي به جهنم ته نه ځي، چې په قرآن او سنت نبوي ﷺ باندې يې فيصلې کولې، رشوت خور نه ؤ، واسطه يې نه منله او د چا د زورواکي پروا ور سره نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله بن صامت (رضي الله عنه) فرمايي: چې زياد عمران ابن حصين (رضي الله عنه) د خراسان له پاره يې والي ټاکي او هغه انکار کوي چې زه ولايت نه شم کولای خلک به انصاف غواړي زه به يې نه شم کولای او د قيامت په ورځ به زه جهنم ته روان يم.

خلک به مځکې غصب کوي، گناه به زما په غاړه وي، خلک به ناحق قتلونه کوي گناه کې به زه شريک يم.

زما ماتحت قاضيان به انصاف باندې فيصلې نه کوي گناه کې به زه شريک يم، خلک به وږي وي زه به خبر نه يم گناه به زما په غاړه وي،...

ما به کار اهل کار ته نه وي سپارلی او د هغه د گناهونو بوج به د قيامت په ورځ په ما هم وي.

زما په ملک کې به ظالم په خلکو ظلم کوي، او زه به خبر نه يم، گناه کې به زه ورسره شريک يم.

عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) فرمايي: چې امير معاوية (رضي الله عنه) به اعلانونه کول چې ماته قاضي پکار دی؛ خو چا به رغ نه کولو، او که چا ته به يې وويل: چې ته قاضي شه هغه به ورته وويل: چې ما ته هغه حديث رسيدلی دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چې کوم قاضي عدالت ونه کړي، نو د پل صراط نه به يې جهنم ته وغورځوي چې اويا ۷۰ کاله به همدا سې روان وي بيا به د جهنم بيخ ته ورسيږي او همدغه به يې ځای شي•.

گرانو دوستانو اوس خو قاضيان په زور، رشوت، واسطه ځان مقرروي او دغه د جهنم اور په پيسو اخلي ځکه چې پراخه حرام مال پکې گټلای شي، عدل نشته زورواکي ده په ناحقه فيصله به يې عالم بندي کړی وي او د جاهل قاضي په وړاندې به يې ودروي هغه ور باندې قيد يا اعدام وخيژوي بې له کومې گناه ټول عالمان او حافظان بنديخانو کې دي او جاهلان مو قاضيان دي د الله ﷻ او رسول الله ﷺ دښمنان مو د الله ﷻ په دوستانو مسلط دي، انتظار کوئ د الله ﷻ انتقام نه بچ کيدل ممکن نه دي.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر ابن الخطاب رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲۹) برخه:

**د عمر رضي الله عنه د خلافت له پاره د اهل حل والعقد شوری جوړول.**

عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: زما نه زيات خدمت د اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) بل چا نه دی کړی، يوه ورځ په خپل کور کې ناست ؤ، او يوه دا سې اوږده ساه يې وويستله ما ويل: چې د سينې پوښتنې يې ماتې شوې دي؛ نو ما جرئت وکړ او ور وړاندې شوم، پوښتنه مې ترينه وکړه چې ضرور يو لوی مصيبت شته !

---

• مسند امام احمد (رح)، رواه ابو داؤد و کذالک في البداية والنهاية ج ۴ صف ۲۴۹، و اخرجه البيهقي ج ۲ صف ۳۱۰ و ابن سعد ج ۳ صف ۲۰۲، وقال الذهبي حديث صحيح، وقال الحاکم ج ۳ صف ۲۴:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغه کوم غم او مصیبت دی؟ ما ته ضرور ووایه، نو امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) وفرمائل: چې هو لوی غم را باندې بار دی هغه د خلافت بار دی زه باید خلافت هغه چاته حواله کړم چې اهل یې وي، خلکو ته انصاف ورکړي او د خلکو شکایات واوري، زغم ولري او مهربانه وي.

عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمایي: چې ما ورته وویل: ولې هغه خلک چې د جنت زیری پرې شوی دی یعنې عشره مبشره بالجنة ولې هغوئ یې اهل نه دي؟

بیا ما ورته د یو یو نوم اخیست او امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) پکې ملاحظات لرل.

بیا عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) نه راویت دی: د وفات نه مخکې چې زخمي هم ؤ ما ته وویل:

علي (رضي الله عنه)

عثمان (رضي الله عنه)

طلحة (رضي الله عنه)

زبیر (رضي الله عنه)

عبدالرحمن ابن عوف (رضي الله عنه)

او سعد ابن وقاص (رضي الله عنه) را وغواړه بیا یې وفرمایل: که خلافت سعد (رضي الله عنه) ته ورکړل شي بهتره ده که نه؟ نو د غه کسانو سره مشوره وکړه.

عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) فرمایي: ما هغوئ راوغوښتل نو عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه هغوئ ته وویل:

تاسې د خلافت له پاره غوره شوي یاست، تاسو کې که څوک بل ته تیریږي تیر دې شي، نو زبیر (رضي الله عنه) خپله رایه علي (رضي الله عنه) ته وسپارله.

طلحة (رضي الله عنه) خپله رایه عثمان (رضي الله عنه) ته ورکړه

او سعد (رضي الله عنه) خپله رایه عبدالرحمن (رضي الله عنه) ته ورکړه.

بیا عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه پورته شو ځان له یې علي (رضي الله عنه) ته وویل: ایا که زه یو داسې شخص انتخاب کړم چې د خلافت لالچي نه وي خو وړ شخص وي ته به یې ومنې؟

هغه ورته وویل: ولې نه په سر سترګو.

بیا عبدالرحمن ابن عوف (رضي الله عنه) عثمان (رضي الله عنه) ته ورغی هغه ته یې هم همدا خبره وکړه چې ته به زما انتخاب شوی نفر ومنې؛ چې زه به فقط د الله ﷻ له ویرې انتخاب کوم هغه ورته وویل: هو ستا انتخاب ما ته قبول دی.

بیا یې ورته وویل: لاس را وړاندې کړه ! هغه لاس ور اوږد کړ او عبدالرحمن ابن عوف (رضي الله عنه) ورسره بیعت وکړ. بیا علي (رضي الله عنه) را پورته شو بیعت یې ورسره وکړ بیا ټولو صحابه کرامو بیعت ورسره وکړ ،چې د خلافت دغه مشکل حل شو.

عمر (رضي الله عنه) فرمایلي: چې د خلافت له پاره داسې شخص مناسب دی چې مکمل د قرآن او حدیثو علم ولري، سختي کوونکی وي؛ خو جابر او متکبر نه وي، سخي وي خو بیځایه اسراف کوونکی نه وي، بل چاته مال ورکوونکی وي او خپله چا ته لاس نه اوږدوي، عاجزي کوونکی وي خو شخصیت یې کمزوری نه وي چې څوک یې امر نه مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اقتصاد پوهېږي خو بخیل نه وي،
لالچي تمع کوونکی او مصلحتي نه وي چې ملک او قوم د مصلحت په نوم برباد کړي.
اسلام ته او وطن ته وفادار وي، درواغجن او لافو نه وي، حدود به جاري کوي او د خلکو د ملامتیا پرواه به نه کوي، ظالم به نه وي، او ور سره کسان به یې هم ظالمان او جابران نه وي، د چا سیاسي او فکري غلام به نه وي.
قوم او نژاد پرست به نه وي، نیک عمله به وي بل ته به هم د نیکۍ توصیه کوي، د سنتو پابند به وي فاسق به نه وي، د یتیمانو بې وزلو، نادارو، ضعیفانو، کونډو او معیوبینو له پاره به خاص انتظام کوونکی وي.
خپله تنخواه به د خپلې حلالې مزدورۍ نه پوره کوي، د بیت المال نه به شخصي مصارف نه کوي.
مال جمع کوونکی به نه وي، که د زکاة مستحقین ترې وغوښتل شي نو پخپله به هم د زکاة اخستلو مستحق وي، که چا ور باندې کومه دعوه وکړه نو قاضي ته به خپله حاضرېږي او د قاضي هره فیصله به مني.
خپله خبره او نظر به په چا نه تحمیلوي بلکې د اهل حق رایه باندې به عمل کوي•.
راتلونکی نشر کې د عمر (رضي الله عنه) د بیت المال سره احتیاط او نور بهترین معلومات و کې را سره اوسئ.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۰) برخه

### د عمر رضي الله عنه تقوی د بیت المال په باره کې.

د حسن ابن علي (رضي الله عنه) نه روایت دی: چې عمر (رضي الله عنه) ته کوم ځای نه مشترک مال راغی، نو ام المؤمنین حفصة (رضي الله عنها) چې لور یې وه، ورته راغله او ورته یې وویل: امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ستا د خپلوانو هم تا باندې حق دی زه دې لور یم ماته هم برخه راکړه.
امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ورته جواب کې وویل: لور جانې ستا حق زما سره زما شخصي مال کې دی او دا مال خو د غنیمت مال دی، که زه تا ته په دې مال کې برخه درکړم، نو زه به لویه گناه کې مبتلا شم، گرانې لور جانې ته مه خفه کیږه زه ستا د لوګی تندی نه ښه خبر یم، خو ما سره خپل مال نشته چې در یې کړم، او د بل مال در باندې نه خورم.
حسن (رضي الله عنه) فرمايي: ما ام المؤمنین حفصة (رضي الله عنها) ولیدله چې لمن یې ځان پسې را کا گله او بیرته لاړه.
اسلم (رضي الله عنه) فرمايي: چې عبد الله ابن ارقم (رضي الله عنه) ته د جلولاء علاقې نه مال راغلی ؤ، هغه کې سره، سپین او مرغلرې هم وو، نو هغه امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ته وویل: که ستا

---

• کذا في منتخب الکنز ج۴ ص۴۱۲، و ایضا ذکر کنزالعمال ج۴ ص۳۱۳ و ص ۳۱۸، اخرج احمد في کتاب الزهد، و ابن ابی شیبة و ابن عساکر و اخرج ابن سعد في کتاب اهل حل والعقد و کتاب الاموال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه وي دغه مال وګوره که ستا کوم خوښ وي زه به هغه تاته درکړم، امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ورته وویل: فارغ وخت کې راته یاد کړه چې زه یې وګورم بیا یوه ورځ امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) فارغ ؤ چې عبدالله ابن ارقم (رضي الله عنه) ورته خبره یاده کړه او ور سره روان شو.

کور ته چې ورسیدل هغه مال ورته کېښ کې واچول او امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ورته په ژړا شو چې دغسې مال الله ﷻ خپلو دوستانو ته نه ورکوي بیا یې دغه آیات تلاوت کړ.

{زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ} (14)

ژباړه:

(خلکو ته خواهشات خوښ شوي لکه ښځې اولادونه ،او جمع کړل شوي مالونه سره زر سپین زر ،او معلومدار آسونه یا د آسانو په شان د سورلۍ شیان او نور څهار پایان او کرل شوي فصلونه، باغونه او کرونديآلات ، خو دغه ټول د دنیا شیان دي چې پاتې کیدونکي دي ، خو د الله جل جلاله په نزد ډیر غوره او بهتر ورتلل دي چې همیشه دي او نه ختمیږي )

دې وخت کې عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) راغی او وړوکی زوی یې غیږ کې ؤ، هغه ورته وویل: اباجانه یوه ګوته خو ترینه ماته را کړه چې په ګوته یې کړم نو امیرامؤمنین (رضي الله عنه) ورته وویل: مور ته دې ولاړ شه هغه به ستوان در باندې وخوري، اسلم (رضي الله عنه) فرمایې هیڅ شی یې ورنه کړ.

اسماعیل بن محمد بن سعد بن ابي وقاص (رضي الله عنه) فرمایي: چې د بحرین نه امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ته مشک او عمبر راغلي وو ، چې د مسلمانانو تر منځ یې تقسیم کړي، نو امیرامؤمنین (رضي الله عنه) و فرمایل: کاش چې یوه ماهره ښځه وای چې دغه مشک او عمبر یې تول کولای شوای چې تول کړي یې وای او هر چاته مې خپله برخه ورکړې وای نو د امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) زوجه مبارکه عاتکه بنت یزید بن عمرو بن نفیل رضي الله عنه هلته ناسته وه، هغې وویل: زه په تول کولو کې مهارت لرم زه به یې تول او تقسیم کړم.

امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ورته وویل: چې نه ته به یې نه تولوې، ځکه چې زه ویریږم چې ستا لاسونه به په مشکو او عمبرو ککړ وي، سر به وګروي یا به غاړې ته لاس پورته کړې، یا به د سر پیکی سموې نو دغه مشک او عمبر به په هغه ځای پورې ونښلي.

اوستا ګوتې به هم خوشبویه شي چې په دې طریقه به تا ته د نورو خلکو نه زیاته برخه درشي نو هم به زه ګناهګار شم او هم به ته.

دې ته وایې د الله ﷻ ویره فقط ګوتو پورې نښتي مشک او عمبرو باندې هم راضي نه دی چې له خلکو ورته زیات ورسیږي.

حسن ابن علي (رضي الله عنه) فرمایي: امیرامؤمنین (رضي الله عنه) یو ماشوم ولید ؛ چې ډیر زیات ډنګر او کمزوری ؤ، نو پوښته یې وکړه چې دا د چا زوی دی چې دومره ضعیف دی؟

عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: چې ستا اولاد دی یعنې زما زوی دی، او ستا لمسی دی نو امیرامؤمنین (رضي الله عنه) ورته وویل: نو ولې خوراک نه ورکوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبد الله ابن عمر(رضي الله عنه) ورته وویل: ستا هغه امیر چې په بیت المال باندې مقرر دی هغه ورته څه نه ورکوي، او تا ټولو ماشومانو ته د بیت المال نه خوراکه مقرره کړې ده.
نو امیر المؤمنین (رضي الله عنه) خپل زوی ته وویل: زویه بیت المال ته طمع مه کوه هغې باندې زه د خلکو مصارف پوره کوم د خپل کور مصارف نه.
ته مزدوري وکړه او دغه زما په لمسي یې وخوره چې غټ شي.
عبد الله ابن عمر (رضي الله عنه) نه روایت دی: چې ما بازار کې یو ډنګر اوښ واخست او ځنګل ته مې د رمې والا سره ولیږلو، چې تیار شي، نو لږ وخت بعد هغه تیار شو او ما بازار ته د خرڅولو له پاره راوست؛ چې خرڅ یې کړم او ګټه پرې وکړم، نو امیر المؤمنین (رضي الله عنه) بازار ته راغی او په دې اوښ یې نظر ولګید او پوښتنه یې وکړه چې دا د چا دی؟ نو زه په منډه ورغلم ورته مې وویل: اباجان دا زما دی ما ځنګله ته لیږلی ؤ هلته څورب او تیار شو اوس مې راوستی خرڅوم یې، نو امیر المؤمنین (رضي الله عنه) راته وویل: ښه خلکو به ویلي وي چې د امیر المؤمنین (رضي الله عنه) د زوی اوښ دی ښه واښه پرې خوري، ښې اوبه پرې څښي چې تیار شي یعنې تا زما د نوم نه غلطه استفاده کړې، ژر شه خرڅ یې کړه چه په څو دې اخستی وي هغه واخله او باقي پیسې بیت المال کې داخلې کړه، هغه همداسې وکړل.
اسلم (رضي الله عنه) فرمایې: چې د روم بادشاه یو قاصد رالیږلی ؤ عمر (رضي الله عنه) ته کله چې هغه بیرته تلو؛ نو د امیر المؤمنین عمر (رضي الله عنه) زوجې مبارکې چا نه یو دینار قرض کړ، هغې باندې یې عطر واخستل او بوتلونو کې یې واچول او د روم د بادشاه ښځې ته یې هدیه ولیږله،
کله چې د روم د بادشاه ښځې ته عطر ورسیدل ډیره خوشحاله شوه او هغه بوتلونه یې د سرو، سپینو او مرغلرو ډک کړل بیرته یې راولیږل، کله چې د امیر المؤمنین (رضي الله عنه) زوجې مبارکې ته ورسیدل هغې ټول په کټ کې واړول چې ویې ګوري، دې وخت کې امیر المؤمنین (رضي الله عنه) راغی او پوښتنه یې وکړه! چې دا له کومه شول؟ هغې ورته وویل: ما له چا یو دینار قرض آخستی ؤ او عطر مې پرې رانیولي وو او د روم بادشاه ښځې ته مې سوغات لیږلي وو، هغې واپسئ کې دا هدیه را لیږلې ده. امیر المؤمنین (رضي الله عنه) خپلې زوجې مبارکې ته وویل: ښه هغې به ویلي وي چې د امیر المؤمنین (رضي الله عنه) ښځه ده ځکه یې ډیر مال درته رالیږلی دی یعنې تا زما له نوم نه استفاده کړې ده بیا یې هغه شیان بازار کې خرڅ کړل او یو دینار یې خپلې بي بي رضي الله عنها ته ورکړ چې قرض دار ته یې ورکړي. او نور یې بیت المال کې داخل کړل.
دا ؤ د عمر (رضي الله عنه) عدالت او د الله ښځه ﷻ ویره.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۱) برخه*:

محمد ابن سیرین (رضي الله عنه) فرمایي: چې عمر (رضي الله عنه) ته خپل زوم راغی او ورته یې وویل: ما ته د بیت المال نه څه راکړه، نو عمر (رضي الله عنه) ډیر زیات ورټلو چې ته غواړې ما په داسې کارونو جهنم ته بوزې، او زه د خائنانو نه شمار شم؟، بیا یې له خپل شخصي مال نه لس زره درهم ورکړل.

عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) فرمایي: چې ابو موسی الاشعري (رضي الله عنه) د عمر (رضي الله عنه) زوجې مبارکې عاتکه بنت عمرو بن نفیل رضي الله عنه ته یو فرش یا درۍ راولیږله چې یو نیم لاس یا یو لاس یوه لویشت او نرۍ هم وه، دا د دې له پاره چې ور باندې د شپې پریوزي، نو عمر (رضي الله عنه) هغه ولیدله او پوښتنه یې وکړه چې دا له کومه شوه؟ بی بي مبارکې ورته وویل: دا ابو موسی الاشعري (رضي الله عنه) را لیږلې ده.

عمر (رضي الله عنه) هغه راواخستله او تر هغې یې خپله بی بي عاتکه رضي الله عنها ووهله چې سر یې وینې شو، بیا یې ابو موسی الاشعري (رضي الله عنه) راوغوښت، هغه ورته وویل: یا امیرالمؤمنین لږ صبر وکړه زما خبره واوره، خو عمر (رضي الله عنه) یې په وهلو شروع وکړه او همدا یې ورته ویل: ستا د سوغات لیږلو له پاره بل مناسب ځای نه ؤ چې تا ماته را ولیږله؟

ایا ته غواړې چې مونږ په داسې فرش ویده شو چې زما د رعیت نه د چا په کور کې نه وي؟

ایا ته غواړې چې مونږ په داسې نرم فرش ویده شو؟ چې د شپې عبادت رانه پاتې شي؟

ایا ستا خوښه ده چې زما کور کې دې داسې فرش موجود وي چې زما د رعیت په کورونو کې نه وي؟

عطاء ابن یسار (رضي الله عنه) فرمایي:

رسول الله ﷺ عمر (رضي الله عنه) ته هدیه را ولیږله؛ خو عمر (رضي الله عنه) یې د اخستلو نه انکار وکړ، بیا رسول الله ﷺ را وغوښت چې تا زما هدیه ولې قبوله نه کړه؟ نو عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: یا رسول الله ﷺ تا نه دي فرمایلي: چې هر چا ته دا غوره ده چې چا ته د اخستلو له پاره لاس اوږد نه کړئ؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو ما ویلي دي؛ خو ما د سوال له پاره لاس اوږدول یاد کړی دی، دا خو تا نه دی غوښتی یعنې که څوک څه درکوي چې تا نه وي غوښتي د هغه قبولول منع نه دي، خو چې وروسته ورپسې دنیایي طمع نه وي، مثلاً یو داسې څوک درته کوم سوغات درکوي چې تا پورې یې کوم کار بند وي، بیا هغه کار در باندې کوي دا بیا رشوت کې حسابیږي.

بیا عمر (رضي الله عنه) هغه هدیه قبوله کړه او قسم یې وخوړ چې چا ته به د کوم شي سوال نه کوم.

تر دې چې کله به په آس سپور ؤ او قمچینه به ترې وغورځیدله او خلک به موجود وه، چې هغه ورته ورکړي خو خپله به له آس کښته کیده او هغه قمچینه به یې را اخیستله،

* رواه مالک مرسلا ورواه البیهقي عن زید ابن اسلم عن ابیه عن عمر ابن الخطاب، کذالک فی الترغیب والترهیب ج ۲ صف 118 و ابن عساکر و ابن سعد ذکر مثل ذلک، وفي کنز العمال ج 4 صف ۳۸۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



← لیث ابن سعد (رضي الله عنه) فرمایي: چې مقوقس بادشاه د مصر والي عمرو بن العاص (رضي الله عنه) ته وویل: ته د محطم غر په ما باندې خرخ کړه زه به تا ته (۷۰۰۰) دینار درکړم عمرو ابن العاص (رضي الله عنه) تعجب کې شو چې دغه اخستلو نه به د ده څه مطلب وي؟ نو عمر (رضي الله عنه) ته یې لیک راولیږه چې مقوقس بادشاه وایي: ته ما باندې دغه غر خرځ کړه.

نو عمر (رضي الله عنه) ورته جوابي لیک ولیږو، چې ورته ووایه مسلمانان ځمکې ۵ نه خرڅوي بلکې ځمکې یا له نورو اخلي، یا یې فتح کوي خو ته دا ووایه چې دا غر خو نه فصل کوي، او نه ونې بوټي لري ته پدغه څه کوې؟

کله چې عمر ابن العاص (رضي الله عنه) ته لیک ورسیده، نو هغه مقوقس نه پوښتنه وکړه چې زمونږ کتابونو د دې غره په باره کې لیکلي دي چې دې کې د جنت د ونو یا درختونو نه یوه ونه ده.

عمرو ابن العاص (رضي الله عنه) بیرته عمر (رضي الله عنه) ته ولیکل: چې مقوقس داسې وایي:

نو عمر (رضي الله عنه) ورته ولیکل: د جنت د ونو مستحقین یوازې مسلمانان دي، او مسلمان د خاورې سوداء چا سره نه کوي او نه زمین فروش مسلمان کیدای نه شي؛ خو که ته پکې مقبره یا هدیره جوړوې؟ فقط مقبرې یا هدیرې له پاره به یې مفته درکړم.

نو عمرو ابن العاص (رضي الله عنه) مقوقس ته همداسې وویل: مسلمان ځمکه نه خرڅوي ځمکه مور ده او مسلمان مور نه خرڅوي په یوه لویشت ځمکه مسلمانان ډیر سرونه قرباني کوي خو چاته یې پریږدي نه.

بیا عمرو ابن العاص (رضي الله عنه) ورته وویل: خبردار بیا د داسې کارونو اراده ونه کړې. چې د سختې بې شرمۍ سره به مخ شې،

بیا مقوقس خپلو عسکرو ته وویل: ما غوښتل چې په دې بهانه دغه غر واخلم او د مسلمانانو له پاره ترې مورچه جوړه کړم خو امیر المؤمنین (رضي الله عنه) راته داسې اشاره راکړه چې کله به مې هم له یاده ونه وځي، یعنې د هغه د هدیرې نه مطلب دا ؤ که غلط حرکت دې دغه غره طرف ته وکړ؟ نو دغه غر به ستاسې له پاره هدیره شي.

بیا مقوقس وویل: تر څو چې مسلمانان دغسې په اسلام او خاوره مین اشخاص لري همیشه به کامیاب وي خو کله چې د دوئ مشرانو د دښمن سره د ځمکې سوداء وکړه، نو بیا به یې خپل قوم او ولس همیشه له پاره ذلیله وي.

ګرانو دوستانو لکه څنګه چې د عمر (رضي الله عنه) نور سیرت کې را سره یاست د عمر (رضي الله عنه) د شهادت غمجنو شیبو کې را سره اوسئ.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت مبارک (۳۲) برخه:

**او د شهادت غمجنه پېښه***.

لکه چه وړاندې مو ذکر کړل، چې کعب الاحبار ورته ویلي وو، چې زمونږ کتابونو کې د همدې کال د ذالحجې میاشتې اخیر کې ستا د شهادت امکان شته؛ نو کله چې عمر (رضي الله عنه) اخیرې حج ته ولاړ، نو په عرفات کې یې ځانله دغه دعاء وکړه:

← ای ربه زما عمر زیات شو، ای ربه زما قوت او طاقت ختم شو، ای ربه: اوس خو زما رعیت ډیر زیات شو، مسلمانان ټولې دنیا ته ورسیدل، او زیات ملکونه یې فتح کړل، اوس مې ځانله در وغواړه اوس مې د خپل حبیب سره ملاقات نصیب کړه، یا ربه: ما مه ضایع کوه، یا ربه: ته خو پوهیږې چې زما ستا ملاقات ته تلوسه ده، یا ربه: ما ته شهادت نصیب کړه، یا ربه: ته خو خبر یې چې مونږ درې تنه د اُحُد غره ته ختلي وو او غر په زلزله شو او و خوځیدلو او ستا ګران پیغمبر ﷺ ورته وویل: ای اُحُدَه: ودریږه تا باندې یو نبي ﷺ، یو صدیق (رضي الله عنه) او دوه شهیدان ولاړ دي، نو هلته خو غیر زما او عثمان (رضي الله عنه) نه بل څوک نه وه، نو ما ته زما د شهادت ارمان پوره کړه،

ای ربه: ته خو عالم یې چې یوه ورځ نبي ﷺ زه ولیدم چې سپینې جامې یا کالي مې اغوستي وو، نو نبي ﷺ رانه پوښتنه وکړه چې جامې دې نوي دي که مینځل شوي دي؟ نو ما ورته وویل:

چې مینځل شوي دي نو رسول الله ﷺ راته وویل: نوې جامې اغونده، او ژوند عزتمند تیر کړه او شهید مړ شه.

او الله ﷻ به درته په دنیا او اخرت کې د سترګو یخوالی در کړي، بیا یې لاسونه اوچت کړل دعا یې وکړه یا الله ﷻ ماته مقبول شهادت نصیب کړه.

یا ربه: ماته مرګ ستا د حبیب په کلي کې را کړه یعنې مدینه منوره کې.

نو الله ﷻ یې دعاء قبوله کړه، کله چې د حج د فریضې آداء کولو بیرته راستون شو نو د مغیره ابن شعبة غلام چې د نهاوند په جګړه کې اسیر او غلام شوی ؤ، کافرانو ولمسولو او د مال متاع او واده لالچ یې ورکړ، دغه مجوسي غلام ابو لؤلؤ باندې مشهور ؤ چې اصلي نوم یې فیروز ؤ، دې خبیث کافر خپل خنجر چې دواړه طرف ته تیز تیره ؤ، مسموم یا په زهرو ککړ کړ او سهار وختي مسجد سره پټ شو.

کله چې عمر (رضي الله عنه) محراب کې امامت له پاره ودرید او د لمانځه صفونه یې برابرول نو ابو لؤلؤ پیروز مجوسي ور باندې رامنډه کړه او په ډیرې تیزئ سره یې درې ګذاره ووهه او بیرته په تیښته شو، نورو صحابه کرامو د نیولو کوشش وکړ خو مجوسي کافر هر هغه چا باندې وار کول چې مخې ته به ورغی، نو ټول دیارلس (۱۳) تنه یې زخمیان کړل چې (۹) تنه پکې شهیدان شول، بیا اخیر صف کې یو صحابي ورته مخ باندې څادر واچولو او د شاه لخوا نه یې کلک غیږ تري چاپیره کړه چې دې وخت کې ابو لؤلؤ فیرز المجوسي خپل خنجر باندې د خپلې غاړې رګونه غوڅ کړل او خپل خنجر یې خپله مرۍ کې ښخ کړ او مردار شو.

عمر (رضي الله عنه) پریوت او دغه آیات یې تلاوت کړ (وَكَانَ اَمْرُاللّٰهِ قَدَراً مَّقْدُوْراً)

---

* کتاب الاسیعاب ج ۳ صف ۲۴۳، طبقات الکبري ج ۳ صف ۲۵۲-۲۵۳-، اسد الغابة ج 4 صف ۱۸۰-۱۸۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو عبدالله ابن عباس (رضي الله عنه) عبدالرحمن ابن عوف له لاسه ونیولو او لمونځ ته یې مخکې کړ، نو عبدالرحمن ابن عوف (رضي الله عنه) اسانه او لنډ لمونځ اداء کړ او عمر (رضي الله عنه) یې په اوږه کړ او خپل کور ته یې یووړ.

هلته لږ په هوش راغی نو غږ یې وکړ ماته اوبه راوړئ، زه اودس کوم لمونځ را نه قضاء کیږي او داسې حال کې چې د وینو فوارې یې بدن نه روانې دي، اودس یې وکړ او ښه په اطمئنان سره یې لمونځ وکړ.

بیا یې صحابه کرامو ته وفرمایل: څوک چې لمونځ نه کوي د هغوئ په اسلام کې برخه نشته، لمونځ هیڅ حالت کې قضاء کول نه دي روا، دې وخت کې طبیب ورته راورسید،

طبیب چې یې زخمونه ولیدل، ورته یې وویل: امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) زخمونه دې ډیر ژور دي او ستا د بچ کیدو امکان نشته نن ماښام پورې دې د شهادت امکان دی، که وصیت کول غواړې نو وصیت وکړه ځکه چې ډیره وینه دې ضایع شوې ده، او داسې زخمونه په ګنډلو نه روغیږي.

صحابه کرامو ورته وویل: یا امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) خپل خلیفه وټاکه نو امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) ورته وویل: زه د خلافت له پاره وړ او مناسب څوک نه وینم.

خلافت ډیر مشکل کار دی؛ خو هغه کسان دې خپلو کې مشوره وکړي چې رسول الله ﷺ ترینه د وفات په وخت راضي او عشره مبشره هم پکې دي، بیا یې یو یو ذکر کړل د غه کسانو کې څوک وټاکئ.

علي ابن ابي طالب (رضي الله عنه)

عثمان ابن عفان (رضي الله عنه)

طلحه ابن عبیدالله (رضي الله عنه)

زبیر ابن عوام (رضي الله عنه)

عبدالرحمن ابن عوف (رضي الله عنه)

سعد ابن ابي وقاص (رضي الله عنه).

بیا صحابه کرامو ورته وویل: مونږ ته نصیحت وکړه!

نو عمر (رضي الله عنه) ورته وفرمائل: چې د الله ﷻ کتاب او رسول الله ﷺ سنت کلک ونیسئ، او په همدې عمل او فیصلې کوئ، کله به هم ګمراه نه شئ، همدا مو کامیابئ ته رسوي

بیا یې وفرمایل: ای انصارو تاسو چې څنګه اول کې انصارو ته زړونه او سینې پراخه کړې وې همداسې به ثابت قدمه اوسئ.

بیا یې مهاجرینو ته وفرمایل: ای مهاجرینو له انصارو ورونو سره ښه چلند کوئ تاسې او ستاسې اسلام چا نه اخستی، او انصارو تاسې او ستاسې اسلام ته ځای را کړی تر څو چې ټوله دنیا ته ورسید.

او ټولو ته دا زما نصیحت دی چې:

⇦کلو او بانډو خلکو سره زیات کومک او مرسته کوئ، دوئ په عقیده کې ډیر مضبوط وي.

⇦ای مسلمانانو: ذمیانو سره ښه سلوک او ښه چلند کوئ.

⇦دوئ تاسې ته جزیه درکوي چې ستاسې د اولادونو رزق پکې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇦دې ذمیانو ستاسې دښمن دښمن ګڼلی دی او ستاسې د قانون تابع دي تر څو چې ذمیانو غداري نه وي کړې تاسې ور سره کومک کوئ.
⇦او ای مسلمانانو: خپلو ماتحتو خلکو باندې سختي مه کوئ، دوئ هم ستاسې په شان تن او وجود لري خپل کارونو کې ور باندې ظلم مه کوئ.
⇦خپلو زنانوو سره ښه چلند او ښه رویه کوئ.
⇦او په ښو نبوي ﷺ اخلاقو یې تربیه کړئ.
⇦خپلو اولادونو باندې نظر ساتئ او د دوئ ښه تربیه په تاسې لازم ده.
د عمر (رضي الله عنه) د شهادت بله برخه بیا ان شاءالله را سره اوسئ،

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۳۳) برخه:

### او د شهادت دوهمه برخه•

کله چې عمر (رضي الله عنه) صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د خلافت له پاره ورکسان وښودل نو عبد الرحمن ابن عوف (رضي الله عنه) یې ځان ته نږدې راوغوښت ورته ئې وویل: درې ورځې ته لمونځ ورکوه او دغه زما ښودل شوي کسان یو کور کې بند کړه تر څو چې یې په یو تن خلیفه رضا مندي نه وي ښودلې بهر ته یې مه پرېږده او چې دوئ خلیفه وټاکي او بیا که چا د هغه مخالفت کولو، نو سر ترې کټ کړه نرمي ورسره مه کوه.
بیا یې عبد الله ابن عمر (رضي الله عنه) ځان ته نژدې راوغوښت، ورته یې وویل: زویه ولاړ شه ام المؤمنین عائشې (رضي الله عنها) ته ووایه: چې عمر (رضي الله عنه) وایې چې که ته ما ته زما د دنیا تر ټولو محبوب نبي ﷺ او زما تر ټولو ګران دوست ابوبکر (رضي الله عنه) سره نږدې د ښخیدو اجازه وکړې؟ زه به ډېر خوشحاله شم زما نور هیڅ ارمان نه دی پاتې ټول الله ﷻ پوره کړي دي، فقط همدا یو ارمان لرم لکه چې دنیا کې مې د دوئ جلاوالی نه شوو برداشت کولای اخرت کې یې هم جلاوالی نه شم برداشت کولای، او دا به زما له پاره لوی د فخر ځای وي،
⇜زویه ورشه خو زما نوم ورته واخله او امیرالمؤمنین (رضي الله عنه) نوم ورته مه اخله زه اوس امیرالمؤمنین نه یم.
⇜عبد الله ابن عمر (رضي الله عنه) په بیړه د ام المؤمنین عائشې صدیقې (رضي الله عنها) کور ته ورغی اواز یې ورته وکړ، مورې زه عبد الله ابن عمر (رضي الله عنه) یم زه دننه را تلای شم؟
⇜ام المؤمنین عائشې صدیقې رضي الله عنها ورته وویل: هو زویه راشه ایا عمر (رضي الله عنه) وفات شو؟
⇜عبد الله ابن عمر (رضي الله عنه) دننه داخل شو ګوري چې د ام المؤمنین عائشې صدیقې رضي الله عنها له سترګو له سیلاب اوښکې رواني دي.

• کتاب الاستیعاب ج ۳ صف ۲۴۵-۲۷۴:

(c) ketabton.com: The Digital Library



➥عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) هم سلګئ شروع کړې، ام المؤمنين عائشې صديقې رضي الله عنها ترينه پوښتنه وکړه چې زويه څنګه راغلی ئې؟
➥عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: پلار مې راليږلی يم که ته ورته د رسول اللهﷺ او ستا والد ابوبکر الصديق (رضي الله عنه) سره څنګ کې د استراحت کولو له پاره اجازه ورکړې.
◆عائشې صديقې رضي الله عنها ورته وويل: ما خو دغه ځای خپل ځان له پاره خوښ کړی ؤ او دا زما کوټه ده، خو چې عمر (رضي الله عنه) رانه غوښتنه وکړه نو زما اجازه ده عمر (رضي الله عنه) ماته له خپل ځان نه زيات ګران دی، هم هلته دې راحت ګاه ورته جوړه کړي، عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) خوشحاله شو چې د والد صاحب ارزو يې پوره شوه.
◆بيرته په منډه راغی کله چې کورته دننه شو نو عمر (رضي الله عنه) سترګې ور واړولې، زويه کوم ښه خبر دې راوړی؟
عبدالله ابن عمر (رضي الله عنه) هو بابا: ښه خبر دی ام المؤمنين (رضي الله عنها) اجازه راکړه.
اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) وويل: الحمدلله چې اخرت کې مې هم د رسول الله ﷺ او ابوبکر (رضي الله عنه) ګاونډ په نصيب شو.
بيا يې وفرمايل: ځنکدن دومره سخت دی، که دا ټوله دنيا زما لاس کې وای ما به د قيامت د سختيو په مقابل کې فديه کې ور کړې وای.
نو عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ورته د سورت مريم (71) لمبر آيات تلاوت کړ.
بسم الله الرحمن الرحيم،
(وَاِنْ مِنكُمْ اِلَّا وَارِدُها) الخ
بيا يې ورته وويل: زما اميد دی چې ته به فقط لکه برق غوندې په جهنم تيريږې او بس،
دا ځکه چې اميرالمؤمنين يې امين المؤمنين يې سيدالمؤمنين يې تا په کتاب الله فيصلې کړي دي، تا عدل کړی دی، تا حقوق په عدل تقسيم کړي دي، ته د اسلام له پاره مددګار وې تا ملکونه فتح کړي دي، تا ټوله دنيا ته د عدل قوانين وضع کړل، تر قيامته به خلک ستا په عدليه قوانينو فيصلې کوي.
نو عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: ايا ته به د قيامت په ورځ ګواهي وکړې؟ چې ما دغه کارونه په صداقت تر سره کړي دي؟
عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ورته وويل: هو زه به دغسې ګواهي کوم.
بيا عمر (رضي الله عنه) يوه د خښتې تکړه را پورته کړه چې کاش زه دا سې يو شی وای چې بيا ختم شوی وای او د قيامت عذاب نه بچ شوی وای، کاش چې زه مور نه وای پيدا شوی، کاش چې زه هيڅ هم نه وای، بيا يې اسمان طرف ته سترګې مبارکې وغړولې مسکی شو کليمة شهادت يې وويله او روح يې رحلت وکړ او د عليين طرف ته لاړ.
إِنّا لِلّهِ وَإِنّا إِلَيْهِ رَاجِعون
بيا د صحابه کرامو يو زوګ شو هر يو به ورتلو او په مبارک مخ به ئې ښکلو او د دوئ د سينو نه لکه ژرنده د ژړا اوازونه پورته کيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیر یې د عمر (رضي الله عنه) مبارک جسد په اوږو راواخیست او د اخیري ارامګاه طرف ته یې راوړ.

چا د دې جرئت نه شو کولای چې، خبره وکړي بیا یې په شریکه قبر مبارک ته داخل کړ، او د ټولو د سترګو نه د اوښکو باران روان ؤ، چې کله یې قبر ته وسپاره نو عبد الله ابن سلام (رضي الله عنه) یې سر طرف ته ودرید یو خوا بل خوا یې وکتل مخکې ترینه رسول الله ﷺ او د هغه سینې مبارکې سره د ابوبکر (رضي الله عنه) سر برابر ؤ او د ابوبکر (رضي الله عنه) سینې مبارکې سره د عمر (رضي الله عنه) سر مبارک برابر ؤ، داسې ترتیب سره قبرونه جوړ شوي وو.

نو عبد الله ابن سلام (رضي الله عنه) په ژړا شو او ویې فرمایل: عمره (رضي الله عنه) ته زمونږ مهربانه ورور وې، د حق له پاره سخي وې، باطل له پارت بخیل وې، سترګو کې دې رعب او اثر ؤ، سترګې دې له حیا ډکې وې، په کوم شي چې به الله ﷻ خوشحاله کیده ته به په هغې خوشحاله کیدلې او په کوم شي به چې الله ﷻ خپه کیده ته به هم خپه کیدلې.

عمره (رضي الله عنه) تا د چا بیځایه صفتونه نه کول او نه دې د چا غیبت کولو، نور یې د خبرو تاب نه ؤ، نو علي (رضي الله عنه) یې پښو مبارکو ته ودریده، هغه هم سلګۍ وهلې بیا یې وفرمایل: الله تعالی ﷻ دې در باندې رحم وکړي، یا عمره (رضي الله عنه) په الله ﷻ قسم چې د نبي ﷺ نه بعد تر ټولو ته را باندې ګران وې، ستا هره کارنامه موږ له پاره یو کتاب درس دی، تر څو چې ستا سیرت زموږ مخې ته موجود وي کله به هم ذلیل او برباد نه شو.

بیا ابو عبیده ابن جراح (رضي الله عنه) وفرمایل: زما دې په الله ﷻ قسم وي چې د عمر (رضي الله عنه) په رحلت اسلام کې داسې درز یعنې چاود پیدا شوه لکه دیوال کې چې درز یا چاود پیدا شي چې کله به هم جوړ نه شي.

بیا حذیفه ابن یمان (رضي الله عنه) وفرمایل: کله چې عمر (رضي الله عنه) ژوندی ؤ د اسلام مثال داسې ؤ لکه چې څوک خپل منزل طرف ته روان وي چې قدم اخلي نو منزل یې رانږدې کیږي او د عمر (رضي الله عنه) د رحلت نه بعد داسې شو لکه څوک چې د خپل منزل یا هدف نه شاته روان وي چې څومره قدم اخلي منزل ترې لیرې کیږي.

عمر (رضي الله عنه) رحلت وکړ خو سیرت یې ژوندی دی، عمر (رضي الله عنه) رحلت وکړ خو عدلیه او قوانین یې ژوندي دي، عمر (رضي الله عنه) رحلت وکړ شجاعت یې ژوندی دی، عمر (رضي الله عنه) رحلت وکړ خو موږ ته یې داسې نوم پریښود، چې تر قیامته به ور باندې فخر کوو، عمر (رضي الله عنه) ځان له د فاروق لقب وګټلو.

عمر (رضي الله عنه) زړونه وګټل مسلمانان او کافران ټول یې کارنامې ستائي.

روح دې ښاد وي ځای یې جنة الفردوس شه،

ګرانو دوستانو راتلونکي نشر کې د عمر (رضي الله عنه) هغه لاس ته راوړنې ذکر کوو چې تر قیامته پورې به خلک ترې استفاده کوي را سره اوسئ.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۳۴) برخه•.

د هغه خلکو جوابونه چې وایې اسلام او علماؤ انسانیت ته کوم خدمت کړی دی؟

(1) اول لقب د امیرالمؤمنین عمر (رضي الله عنه) ته ورکول شوی دی.

(۲) هجري شمسي او هجري قمري تاریخ عمر (رضي الله عنه) رواج کړی دی.

(۳) اول لمونځ یې د تراویح شل رکعته په جمع شروع کړ او ټولو ملکونو ته یې مکتوبونه ولیږل چې په جمع شل رکعاته تراویح وکړي.

(4) تر ټولو اول یې قرآن کریم ترتیب او په یو مصحف کې ولیکه زاړه اثار چې په تختو پاڼو او نورو طریقو لیکل شوي وو وسوځول.

(۵) تر ټولو لومړی یې د سِجِلاتو او سوانحو سِستم جوړ کړ، چې د هر چا سوانح، قوم او قبیله د او سیدو ځای یې پکې ولیکل.

(۲) د شپې د ګشت کولو او د خپلو خلکو د احوال نه ځان خبرولو عادت عمر (رضي الله عنه) جوړ کړی دی.

(۷) د شپې پیره کول او د دښمن له حالاتو ځان خبرول عمر (رضي الله عنه) رواج کړي دي.

(۸) د علم النحو قواعد عمر (رضي الله عنه) شروع کړل او عامو خلکو ته یې فرمان جاري کړ چې بغیر علم نه به بل چاته تعلیم نه ورکوي، اول به ځان په عربي او د عربي په قواعدو پوهه کوي بیا به بل چاته تعلیم ورکوي.

(۹) تر ټولو اول مسافر خانې په لویو لارو کې عمر (رضي الله عنه) رواج کړې، چې له چا نه به لاره ورکه شوه، یا به ورسره د لارې خرڅ ختم شو مفت به یې ورسره وړه، قجورې، ممیز، غوړي او اوبه کومک کاوه.

(10) د پوځ له پاره د تقاود سستم او تنخواه عمر (رضي الله عنه) وټاکله چې د پوځي د مرګ وروسته به هم جاري وي،

(11) تر ټولو اول عمر (رضي الله عنه) د حکومت له پاره داسې قوانین وټاکل چې د هغې په برکت به کار اهل کار ته سپارل کیده، او د هر چا د پاسه به یو څوک ؤ چې پوښتنه ترې وکړي او غلطیانې ورته په ګوته کړي.

(12) تر ټولو اول دارالقضاء عمر (رضي الله عنه) جوړه کړې ده چې خلکو به هماغه ځای خپلې دعوې ور وړلې چې بنیاد یې ابوبکر (رضي الله عنه) ایښی ؤ او عمر (رضي الله عنه) عملي کړ.

(13) خوراکي مواد له شتمنو ملکونو نه غریبو ملکو ته په کښتیو کې وړل، عمر (رضي الله عنه) شروع کړل.

(14) تر ټولو اول عمر (رضي الله عنه) قضاء له حکومتي سستم او حکومت جلا او مستقله کړه چې ازادانه فیصلې وکړي او د قاضیانو د تربیه کولو له پاره یې تربیه ګاه جوړه کړه چې پاک نفسه او دینداره قاضیان تربیه کړي او ټولو ښارونو ته یې ځانله دارالقضاوې جوړې کړي.

---

• ماخوذ من حکایة الصحابة ؓ
البدایه والنهایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۵) تر ټولو اول عمر (رضي الله عنه) د قاضي په وړاندې مساوات وضع کړل چې بې له تو پیر به نر او ښځه مالدار او غریب بادشاه او ګدا ورته یو ځای ودریږي.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁

## د عمر رضي الله عنه د سیرت (۳۵) او اخیري برخه:

**د عمرابن الخطاب (رضي الله عنه) هغه خدمات چې د ټول انسانیت له پاره یې کړي دي•.**

(۱) د مجرمینو له پاره توقیف خانې یا بندیخانې جوړول او په هغه کې د انسان له پاره ضروري سهولتونه عمر (رضي الله عنه) رواج کړي دي.

(۲) تر ټولو اول د مسجد نبوي ﷺ د توسیع او لویولو پروګرام او بیا د نورو مسجدونو د لویولو اجازه،

(۳) تر ټولو اول عمر (رضي الله عنه) د خیریه کارونو اداره جوړه کړه چې هغې ته به مالدارو خلکو خیراتونه او صدقات راوړل بیا به عمر (رضي الله عنه) په مستحقینو ویشل چې هغه کې غیرمسلم نادارو ته هم برخه ورکول کیده.

(۳) تر ټولو لومړی اسلامي سِکه یا اسلامي روپۍ چې د مسلمانانو نښان او کلمه به وربانديې وه، عمر (رضي الله عنه) جوړه او رواج کړه.

(۴) تر ټولو لومړی لویه صدقه جاریه د عمر (رضي الله عنه) وه چې په خیبر علاقه کې مځکه وه، هغه ټوله یې په داسې طریقه صدقه کړه، چې تر قیامته یې چا ته د ملکیت اجازه نشته حکومتونه د هغې امدن د اوقافو او خیریه مؤسسو په ذریعه په کونډو، یتیمانو او بې وزلو ویشي.

(۵) د مجرمینو د تادیب له پاره دُوره یا قمچینه عمر (رضي الله عنه) رواج کړې ده، چې بد عمله خلک به یې پرې لارې ته راوستل.

(۶) د شرابو په چښلو (۸۰) دورې تر ټولو اول عمر (رضي الله عنه) شروع کړې.

(۷) د جنازې لمونځ په یو ځل په جمع کول، عمر (رضي الله عنه) رواج کړي دي له دې مخکې به خلکو ډلې ډلې بیل بیل جنازې کولې.

(۸) تر ټولو لومړی ډاګخانه او د خطونو وړلو راوړلو سیستم عمر (رضي الله عنه) شروع کړی دی، چې مخصوصه اداره یې ورته جوړه کړه چې فقط همدا دنده به یې وه.

(۹) تر ټولو لومړی د لښتیو، ویالو او نهرونو کیندل او پلونه جوړول عمر (رضي الله عنه) رواج کړي دي.

(۱۰) تر ټولو لومړی عمر (رضي الله عنه) د شاړو او بې حاصله مځکو د اصلاح کولو له پاره قانون جوړ کړ چې هر چا شاړه او بې حاصله مځکه اباده کړه د هغه شوه.
چې په دې کار سره بیخي زیاتې شاړې او بې حاصله مځکې خلکو ابادې کړې.

---

• ماخوذ من من کتاب الاستعابه
و البدایة والنهایة و کنز العمال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۱) تر ټولو لومړی په رمضان کې مسجدونه رڼا کول عمر (رضي الله عنه) رواج کړل.
(۱۲) تر ټولو لومړی فرش یعنې پوزَیْ په مسجد کې غوړول عمر (رضي الله عنه) شروع کړي دي.
(۱۳) تر ټولو لومړی بیت المال له پاره خاصه اداره عمر (رضي الله عنه) جوړه کړې ده.
(۱۴) تر ټولو لومړی عمر (رضي الله عنه) د فوځیانو له پاره داسې قانون جوړ کړ؛ چې د پوځي د خدمت کولو وخت به د څلورو میاشتو سفر نه زیات نه تیریږي، بیرته به راستنیږي، یعنې د هیڅ پوځي، پولیس او مجاهد سفر به د څلورو میاشتو نه، زیات نه وي او نه به د خپلو کورودانو (میرمنو) نه زیات وخت لیرې تیروي.
(۱۵) د منظمو ښارونو د جوړولو سستم تر ټولو لومړی عمر (رضي الله عنه) رواج کړ.
(۱۶) د باراني مځکو هوارول او غرونو کې لارې جوړول عمر (رضي الله عنه) رواج کړل.
(۱۷) په ذمیانو جزیه کښیښودل تر ټولو اول عمر (رضي الله عنه) شروع کړل.
(۱۸) د یهودو، د ټول حجاز او جزیرة العرب نه ویستل او شام ته جلا وطن کول خصوصا د نجران یهود؛ چې دوئ به همیشه د مسلمانانو په ضد دسیسې جوړولې، نو ځکه عمر (رضي الله عنه) د رسول الله ﷺ هغه حدیث شریف عملي کړ، چې مشرکان دې جزیرة العرب نه وویستل شي او بیرته دې داخلیدو ته نه راپریښنو ستل کیږي.
(۱۹) تر ټولو لومړی داسې فاتح چې پوره ملکونه یې په یو وار فتح کړي وي عمر (رضي الله عنه) دی.
(۲۰) تر ټولو لومړی د دنیا هرې برخې ته مجاهدین او علماء، عمر (رضي الله عنه) لیږلي دي او هلته یې مضبوطې چاونۍ او درسګاوې جوړې کړې دي.
دا ؤ د عمر (رضي الله عنه) مختصر مبارک سیرت که چیرې و غواړو نور هم دوام ورکړو هیڅکله به پای ته ونه رسیږي، د هغه د ژوند هره لحظه د عبرت ډکه ده، او س به همدا کفایت وکړي راتلونکی سیرت د اسلام د دریم خلیفه او دریم ستوري عثمان (رضي الله عنه) په باره کې دی، د هغې لوستو ته مو هم رابولم راسره اوسئ.
ژباړه: لیک او ترتیب
ستاسې ورور حبل الله المتین

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**